


ښاغلی پروفیسور استاد نصیب الله سیماب تکړه شاعر، نوښتګر ادیب، پیاوړی څېړونکی، ژباړونکی او کره کتونکی

***

له پښتو ژبې او پښتنې فرهنګ تکړه شاعر، ادیبوه، څېړونکی، کره کتونکی او وتلي لیکوال ښاغلي پروفیسور استاد نصیب الله سیماب سره د (کلاسیسم) نړیوال ادبي ښوونځی په تړاو ځانګړې مرکه

مرکوال: انجنیر عبدالقادر مسعود

***

د پوهې، علم ادب او فرهنګ درنو او پتمنو مینه والو!

ادب د انسان د اندو فکر، احساس، تخیل او ټولنیز شعور هنري انځور دی. ادب د انسان د باطن هغه هینداره ده چې د اندو فکر څېره، د احساس رنګ او د وجدان سیوری پکې څرګندېږي. د بشري تمدن په اوږدو کې د انسانانو د فکري پرمختیا او پراختیا، فلسفي لیدلورو او هنري ذوقونو له بدلون سره بېلابېل ادبي مکتبونه رامنځته شوي دي، چې هر یوه یې د خپل عصر د فکري او فرهنګي ځانګړنو استازیتوب کړی دی. ادبي مکتبونه د انسان د فکري او هنري تکامل بېلابېل پړاوونه څرګندوي. کلاسیسم د نړۍ د ادبیاتو له مهمو ادبي مکتبونو څخه دی، چې د ادبي بیان، هنري بڼکلا او انساني آزمایښتونو او تجربو په پراختیا کې یې ژور اغېز لرلی دی.

کلاسیسم د ادبیاتو هغه مهم مکتب دی چې ریښې یې د لرغوني یونان او روم په ادبي او فلسفي میراث کې نغښتې دي، خو په اوولسمه پېړۍ کې یې په فرانسه کې ځانګړی پرمختګ وموند. دغه مکتب د عقل، منطق، نظم، تناسب، اعتدال او بڼکلا پر اصولو ټینګار کوي او د لرغونو یوناني او رومي ادیبانو نښیرونه(اثار)د هنري معیارونو غوره بېلګې ګڼي.

کلاسیسم د عقل، نظم او اعتدال په رڼا کې ادبیاتو ته هنري معیارونه ور وبښل، او نورو مکتبونو د احساس، واقعیت، تخیل او نوښت نوې دروازې پرانیستې. په همدې تنوع کې د نړیوال ادب اصلي بڼکلا پرته ده؛ ځکه ادب هغه ژوندی سیند دی چې د زمانې له بدلونونو سره بهېږي، خو د انسان د روح، فکر او بڼکلا تنده تل خړوبوي.

د بشري تمدن په اوږده تاریخ کې ځینې ستې او شخصیتونه داسې وي چې د خپل ژوند په یوه ځانګړي ډګر کې د نوم او شهرت خاوندان شي؛ خو ډېر لږ داسې

انسانان موندل کېږي چې د پوهې، علم، ادب، څېړنې، ژباړې، شعر، لیکوالۍ او فرهنګي خدمتونو بېلابېلې لارې په یوه واحد فکري شخصیت کې سره راټولې کړي. دا ډول ستې او شخصیتونه یوازې د خپل عصر علمي او ادبي اړتیاوې نه پوره کوي، بلکې د راتلونکو پښتونو او نسلونو لپاره د اند و فکر، پوهې، ذوق او فرهنګي شعور داسې میراث پرېږدي چې ارزښت یې د زمانې په تېرېدو لا څرګندېږي.

ښاغلی پروفیسور استاد نصیب الله سیماب د پښتو ژبې او ادب په رون او شین اسمان کې له هغو وتلیو ادیبانو، تکړه شاعرانو، غښتلیو څېړونکو، کره کتونکو، نوښتګرو، نومیالیو او پیاوړو او درنو ستو او شخصیتونو څخه دی، چې د شخصیت بېلابېل اړخونه یې د پوهې، پنځونې او تخلیق، څېړنې او فرهنګي پازوالي او مسئولیت په رڼا کې د ځانګړې ارزونې او درنښت وړ دي.

ښاغلی استاد اسماعیل یون د پښتني- افغاني فرهنګ پېژندل شوی شخصیت، فرهنګپال، نوښتګر ادیب، تکړه ژورنایست او څېړونکی په خپله یوه لیکنه کې د پروفیسور استاد سیماب صاحب د علمي او ادبي شخصیت په ټړاو داسې وایي:

((سیماب د نظر او عمل خاوند لیکوال.

په پښتو کې د لیکوالو شمېر کم نه دی، خو د داسې لیکوالو شمېر بیا کم دی، چې هم یې له کوچنیوالي له شاعرۍ او لیکوالۍ سره مینه وي، بیا یې ادبیاتو پوهنځی لوستې وي او بیا ببرته په علمي کادر کې شامل شوی وي ، بیا یې په منظم ډول تدریس کړی وي، اړوند مسلکي اثار یې لیکلي وي او په ادبي چارو؛ لیکنو او پنځونو کې یې هېڅ ډول وقفه نه وي راغلې .

پروفیسور نصیب الله سیماب په پښتو لیکوالو کې د همدغو کمشمېره لیکوالو له جملې څخه دی.

سیماب صیب د خپل ژوند په ټول بهیر کې له ادبیاتو سره پاتې شوی، له ادبیاتو سره یې مینه وه، بیا د ادبیاتو شاګرد شو، بیا د ادبیاتو استاد شو او په منظم ډول یې د ادبیاتو د تدریس چارې پرمخ یوړلې، علمي رتبې یې تر لاسه کړې او لا هم خپلو ادبي هڅو ته دوام ورکوي.

د ادبپوهنې په بېلابېلو برخو؛ ادب تاریخ، ادبي کره کتنه او ادب تیوري کې د ده کړې کارونه او خدمتونه د زیاتې یادونې او ستاینې وړ دی .

په اوسنۍ زمانه کې که موږ د داسې یو چا یادونه کوو چې په ادبي څېړنو کې یې عملاً ډېر کار کړی او په دې برخه کې د نظر خاوند ګڼل کېږي، نو د سیماب صیب نوم به مو ژر ذهن ته راشي. د دې خبرې علت دا دی چې د سیماب صیب په ادبي کار او زیار کې زماني خنډ او ځنډ نه دی راغلی، نو ځکه ده ته په زغرده د نظر او عمل خاوند لیکوال ویلای شو. زه پروفیسور نصیب الله سیماب ته په فرهنګي چارو کې د لا نورو بریاوو هیله لرم.))

(پوهاند استاد اسماعیل یون)

***

د استاد سیماب صاحب د شخصیت ستاینه یوازې د یوه درانه نوم یادول نه دي؛ بلکې د یوه داسې فکري بهیر درناوی دی چې علم یې د پوهې وسیله، ادب یې د احساس ژبه، څېړنه یې د حقیقت موندنې لار، ژباړه یې د فرهنګونو ترمنځ پُل، او

شاعري يې د انساني عواطفو او احساساتو د رنګينو او ظريفو آزماښتونو او تجربو هنري بيان ګړځېدلی دی.

ښاغلی استاد سيماب صاحب د ژور اندو فکر، لوړ او غښتلي استعداد او وړتيا، پراخ ليد، اوچت ارمان او ځواکمن، پاک او سپېځلي قلم څښتن دی.

ښاغلی زرين انځور، چې د پښتو ژبې او ادب نامتو ليکوال، تکړه کيسه ليکونکی ، پياوړی کره کتونکی، څېړونکی او ژورنالیست دی په خپله يوه ليکنه کې د استاد سيماب صاحب په تړاو داسې کښلې دي.

((.... ډاکټر نصيب الله سيماب د پښتو ادبياتو هغه وتلی ليکوال، څېړونکی او استاد دی چې هم د پښتو په معاصرو داستاني ادبياتو کې او هم د ادبياتو په تيوري او تحقيقاتو کې د غوره آثارو د ليکلو ويارِ ور په برخه دی.

د پروفيسر ډاکټر سيماب د لنډو کيسو ټولګې د معاصرې پښتو کيسه ليکنې په مهمو آثارو کې د شمېرلو جوګه دي، په ناول ليکنه کې يې هم نوم د يادولو دی او د سهيلي پښتونخوا په هره فرهنګي - ادبي هڅه کې د هغه ونډه د ستايلو او درنښت وړ ده.

د تخليق او تحقيق په څنګ کې هغه د بلوچستان پوهنتون د پښتو څانګې له ممتازو استادانو څخه دی، څه موده د پښتو څانګې مشر او بيا د ژبو او ادبياتو پوهنځي مشر پاتې شوی دی. ګڼ شمېر شاګردان يې روزلي او له تدريس سره سره يې له پښتو سره مينه هم ورزده کړې ده. دغه راز د سهيلي پښتونخوا د پښتو اکاډمۍ له خواخوږو همکارانو څخه دی او هلته يې هم په اخلاص او صداقت کار کړی دی او لا اوس هم په همدغو هلو ځلو بوخت دی.

ډاکټر سیماب یو ښه لیکوال، غوره څېړونکی او مخلص دوست دی. دهغه آثار او ادبي، علمي هلې ځلې په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو د معاصرو ادبیاتو د څېړنې یوه نه هېرېدونکې برخه ده.))

(زرین انځور)

***

لنډه دا چې د ښاغلی استاد سیماب له ځانګړي شخصیت او د ده له ګټورو او ارزښتناکو نښیرونو(آثارو) څخه څرګندېږي، چې دی روښانه نړۍ لید، اندو فکر لري. له خپل هېواد، کړېدلو او ځوړېدلو هېوادوالو سره او له دوی د دردونو او روحي رنځونو سره، له انسان او انساني کرامت سره ځانګړې او ژوره مینه لري. دی خواخوږی، متواضع او بې کبره انسان، د لوړو انساني موخو، اهدافو او عالي صفاتو خاوند شخصیت دی.

ښاغلي استاد سیماب د یو متفکر انسان په توګه د خپل ځواکمن قلم، علمي او ادبي تحقیقاتو او څېړنو او د خپلو ګټورو او ارزښتناکو علمي، ادبي او فرهنګي نښیرونو(آثارو) له لارې خپلو درنو او پتمنو پښتنو، پښتو ژبې او ادبیاتو ته کارنده او رغنده خدمتونه او چوپړ ترسره کړې دي. همدا وجه ده چې ما له ده سره د نورو مرکو تر څنګ دا ځل د ېوې پوره او بشپړې مرکې له لارې د کلاسیسم نړېوال هنري او ادبي ښوونځی په تړاو ځانګړې څېړنیزه او تحقیقاتي مرکه جوړه کړې ده، چې ستاسو درنو او پتمنو مینه والو پام ورته راګرځوم.

ګران او منلی استاد سیماب صاحب زما نیکې هیلې او سلامونه ومنئ، اجازه راکړئ، چې خپلې پوښتنې ستاسو درانه حضور ته وړاندې کړم.

ګران مسعود صاحب تاسو او ټولو مینه والو ته زه هم سلامونه وړاندې کوم. ستاسو په خدمت او چوپړ کې یم.

***

مسعود: تاسو ادب او په ټیره بیا نړیوال ادب څنګه راپېژنئ؟

استاد سیماب: ادب د انسان د احساساتو، افکارو، جذباتو، تجربو او ژوندانه د واقعیتونو هنري او تخلیقي اظهار دی. ادب د انسان د ژوند هنداره ده چې د یوې ټولنې کلتور، دودونه، ارزښتونه، ستونزې او هیلې را په ګوته کوي. نړیوال ادب بیا هغه ادبي میراث ته ویل کېږي چې د نړۍ د بېلابېلو ملتونو او ژبو ادبي اثار په کې شامل وي. نړیوال ادب د ژبې، جغرافیې، قوم او مذهب له دایرو څخه ټیرېږي او د انسان ګډ احساسات، انساني ارزښتونه، مینه، سوله، ازادي، عدالت او د ژوند بېلابېلې تجربې څرګندوي. زما په فکر، نړیوال ادب د ملتونو ترمنځ د فکري او فرهنګي اړیکو یوه مهمه وسیله ده. د نړیوال ادب په لوستلو سره موږ د نورو ملتونو له فکر، کلتور، تاریخ او ژوند سره اشنا کېږو او د انسانیت د ګډو ارزښتونو په پېژندلو کې مرسته راسره کوي.

مسعود: وایي چې د ادب توکي عبارت دي له: خیال، احساس، اندیښنه، مینه او ټکر یا "تضاد" څخه، تاسو په دې اړه څنګه اندئ؟

استاد سیماب: دا خبره تر ډېره حده پر ځای ده؛ خو که د ادب ماهیت په ژوره توګه وڅېړو، نو ښکاره کیږي چې یاد شوي توکي د ادبي تخلیق له مهمو توکو څخه دي، نه دا چې د ادب ټول توکي یوازې همدا وي. خیال د ادبي تخلیق لومړنی ځواک دی. لیکوال او شاعر د خیال په مرسته له عامو شیانو څخه هنري انځورونه

جوړوي او د ژوند هغه اړخونه راڅرګندوي چې د نورو خلکو له سترګو څخه پټ وي. احساس د ادب روح دی. که په یوه ادبي اثر کې انساني احساسات، عواطف(جذبات) او د ژوند تودوخه نه وي، نو هغه اثر به له هنري اغېز څخه بې برخې وي. البته احساس باید له هنري اظهار سره مل وي، تر څو لوستونکی اغېزمن کړي. اندېښنه د انسان د فکري او عاطفي ژوند یوه مهمه برخه ده. شاعر او لیکوال د ژوند، مرګ، مینې، ازادۍ، ټولنیز عدالت، بې وزلۍ او نورو انساني مسایلو په اړه اندېښنې لري. همدا اندېښنې دي چې د ادبي تخلیق باعث ګرځي. مینه هم د ادب له پخوانیو او تلپاتې موضوعاتو څخه ده. خو مینه یوازې د دوو انسانانو ترمنځ جذباتي اړیکي ته نه ویل کیږي بلکې له انسان، وطن، فطرت، ازادۍ، حقیقت او انسانیت سره مینه هم د ادب مهم موضوعات دي. ټکر(تصادم) یا تضاد د ادبي اثر د حرکت او پرمختګ یو مهم عنصر دی. په داستان، ناول او ډرامه کې د انسان او ټولنې، فرد او نظام، عقل او احساس، غوښتنې او واقعیت، یا خیر او شر ترمنځ تصادم د پېښو د رامنځته کېدو او د موضوع د پراختیا سبب ګرځي. ضروری نه ده چې هر ادبي اثر ښکاره تصادم ولري؛ کله نا کله یو ارام طبیعي انځور یا د یوه سړي داخلي احساس هم لوړ ادبي ارزښت لرونکی اثر رامنځته کولای شي. خو زه غواړم د دې بحث یو بل اړخ ته هم پام وروړوم ژبه، تخیل، عاطفه، تفکر، تصویر، موسیقي، سمبول او هنري جوړښت هم د ادب په رامنځته کېدو او اغیز کې مهم رول لري. یوازې خیال، احساس او اندېښنه د ادبي اثر د جوړېدو لپاره بسنه نه کوي؛ دا مواد باید د ژبې او هنر په وسیله داسې تنظیم شي چې یو ځانګړی جمالیاتي اغېز رامنځته کړي. د ادب اساسي ځانګړنه دا نه ده چې یوازې څه بیانوي، بلکې دا هم ده چې څنګه یې بیانوي. کېدای شي یو فلسفي بحث یوه ژوره اندېښنه ولري، خو ادبي اثر هغه وخت رامنځته کېږي چې دغه

اندېښنه په هنري ژبه، انځور، عاطفه او تخليقي جوړښت کې څرګنده شي. په لنډه توګه، خيال، احساس، اندېښنه، مينه او تضاد د ادب مهم توکي دي؛ خو د ادب بشپړ ماهيت د دغو توکو په ترکيب، د ژبې په هنري کارونه او د ليکوال په تخليقي ځواک کې نغښتی دی

مسعود: ستاسو په اند، د ادبياتو د موخو او دندو، همداراز د ژمنو او نا ژمنو ادبياتو او د ادبياتو د نورو اړخونو په اړه که لږ څه رڼاوی ورکړئ؟

استاد سيماب: دا يوه پراخه، مهمه او له فکري پلوه ژوره موضوع ده. د ادب په اړه د خبرو پر مهال بايد يوازې د هغه پر ښکلا او هنري اړخ بسنه ونه کړو، بلکې د هغه ټولنيز، فکري، فلسفي، اخلاقي او انساني اړخونه هم وڅېړو. ځکه ادب يوازې د کلماتو ښکلی ترتيب نه دی؛ ادب د انسان د ژوند، فکر، احساس او تجربې هنري اظهار دی.د ادبياتو په مقاصدو او فرائضو کې بېلا بېل شيان راځي لکه د ښکلا پنځونه دا د ادب بنيادی مقصد دی ورسره سره د ژوند پېژندنه ده. د شعور او تفکر پراختيا. ټولنيزه نقد او اصلاح، د انساني ارزښتونو پالنه، د ژبې او فرهنګ ساتنه مهم رول لري. له دې ټولو څخه ادب يوازې يو کار نه کوي بلکې ادب هم ښکلا پنځوي، هم فکر راپاروي، هم د انسان د ژوند تجربه بيانوي او هم د ټولنيز شعور په جوړولو کې ونډه اخلي.د ژمن (کمېټيډ) او ناژمن(ان کمېټيډ) ادب موضوع د ادبي نظرياتو له مهمو موضوعاتو څخه ده. په دې برخه کې بايد له افراط او تفريط څخه ډډه وکړو.

ژمن ادب څه ته وايي؟ ژمن ادب هغه ادب دی چې ليکوال يا شاعر پکې د انسان، ټولنې، تاريخ، انصاف، ازادی، ملي هويت، سولې او نورو فکري او ټولنيزو مسايلو باندې خپل مسئوليت احساسوي. په ژمن ادب کې ليکوال د خپل عصر له واقعيتونو

سره اړيکه ساتي او لاتعلقه نه سي پاتېدالای. د ښلګې په توګه، هغه شعر چې د جګړې د قربانيانو درد انځوروي، هغه ناول چې د ټولنيز ظلم او نابرابرۍ واقعيتونه راڅرګندوي، يا هغه ډرامه چې د انسان د ازادۍ او وقار مسئله راپورته کوي، د ژمن ادب ښلګې کېدای شي. خو زما په اند، ژمنتيا يوازې دا نه ده چې شاعر دې سياسي شعارونه وليکي يا ليکوال دې د يوې ځانګړې ايډيالوجۍ تبليغ وکړي. ژمنتيا تر دې پراخ مفهوم لري. يو ليکوال کولای شي د انسان د يوازيتوب، نفسياتي کړاو، مينې، مرګ يا اخلاقي کشمکش په هنري ډول انځورولو سره هم ژمن ادبيات رامنځته کړي؛ ځکه د انسان د باطني نړۍ رښتينې اظهار هم يو ډول انساني مسئوليت دی.

نا ژمن ادب څه ته وايي؟ نا ژمن ادب، چې په عام بحث کې ورته ناپوژمن ادب هم ويل کېږي، هغه ادب ته اشاره کوي چې د خپل لومړني هدف په توګه د ښکلا، تخيل، انفرادي تجربې، ژبې او هنري خپلواکۍ ارزښتونو ته پام کوي او ځان د کومې ځانګړې سياسي، ټولنيزې يا ايډيالوجيکل مقاصدو تابع نه ګڼي. د ښلګې په توګه، يو شاعر ښايي د باران، سپوږمۍ، ګل، فظرت يا يوې شخصي عاطفي تجربې په اړه شعر وليکي، بې له دې چې يو ټولنيز پيغام وړاندې کړي. دغه ډول اثر هم ادبي ارزښت درلودلای شي، ځکه ښکلا، احساس، خيال او د انسان شخصي تجربه په خپله د ادب بنيادي موضوعات دي. ناژمن ادب په دې معنا نه دی چې اثر هېڅ ډول فکري، ټولنيز يا انساني اغېز نه لري. يو اثر ښايي د ليکوال له ټولنيزو مقاصدو پرته هم د لوستونکي په فکر، احساس او نظريه کې بدلون راولي. ژمن او ناژمن ادب دا دواړه بايد په مطلق ډول د يو بل مخالف ونه ګڼل شي. يو اثر هم هنري ښکلا لرلای شي او هم ټولنيزه ژمنتيا. په حقيقت کې، د نړۍ ډېر لوی ادبي اثار هم هنري ارزښت لري او هم د انسان او ټولنې په اړه ژورې

پوښتنې راپورته کوي. اصلي خبره دا ده چې ژمنتیا باید د هنر ځای ونه نیسي. که یو اثر یوازې د شعار، او تبلیغ وسیله شي او د ژبې، شخصیت جوړونې، تخیل، تصویر او هنري جوړښت ارزښتونه په کې له پامه وغورځول شي، نو ادبي اغېز یې کمېدای شي. په مقابل کې، که یو اثر یوازې د ظاهري بڼکلا په لټه کې وي او له ژور انساني احساس او تخلیقي صداقت څخه بې برخې وي، هغه هم ښایي خپل هنري ځواک له لاسه ورکړي.له دې امله، زه د داسې ادب پلوی یم چې هنري خپلواکي، انساني ژمنتیا او فکري ژورتیا په متوازن ډول سره یوځای کړي. د ژمن او ناژمن ادب بحث له دوو مشهورو ادبي نظریو سره هم تړاو لري لکه هنر د هنر لپاره او هنر د ژوند لپاره. خو زه فکر کوم چې دا دواړې نظریې باید د داسې مطلقو او نه پخلا کېدونکو دریځونو په توګه ونه منل شي. هنر کولای شي خپلواک هم وي او د ژوند له مسئلو سره تړاو هم ولري. د هنر خپلواکي دا معنا نه لري چې هغه دې له انسان او ټولنې څخه جلا شي؛ لکه څنګه چې ټولنیزه ژمنتیا هم دا معنا نه لري چې هنر دې په تبلیغ بدل شي. زه ادب د انسان د ژوند یو خپلواک، خو له ژوند څخه نه بېلېدونکی هنري فعالیت ګڼم. ادب نه یوازې د بڼکلا لپاره دی، نه یوازې د ټولنیز اصلاح لپاره، او نه یوازې د یوې ځانګړې ایډیالوجۍ د بیان وسیله ده. هغه د انسان د تجربې، خیال، احساس، فکر او تخلیق ګډه نړۍ ده. د لوی ادب ځانګړنه دا ده چې د هنر خپلواکي وساتي، د انسان له ژوند سره اړیکه ولري، فکري ژورتیا ولري او د لوستونکي په ذهن او احساس کې د پوښتنې ځواک راویښ کړي. که یو اثر د لوستونکي ذهن روښانه کړي، احساس یې ژور کړي، د انسان او نړۍ په اړه یې نظر پراخ کړي اوورسره سره لوړ هنري کیفیت ولري، نو دا د بڼه او لوی ادب یوه غوره بېلګه ده.

مسعود: د ادبياتو د وېش، د ژبې او ادبياتو د اړيکو په اړه څه ليد لرئ؟

استاد سيماب: دا هم د ادبياتو له مهمو بحثونو څخه دی؛ ځکه چې د ادب د ماهيت، د هغه د ډولونو او د ژبې له ماهيت سره د ادب د اړيکې له پېژندلو پرته د ادبي اثارو بشپړه شننه او ارزونه ستونزمنه ده. زه به هڅه وکړم چې موضوع په څو برخو کې روښانه کړم. د ادبياتو وېش د بېلابېلو معيارونو له مخه ترسره کېږي. موږ ادبيات د ژبې، تاريخي دورې، موضوع، ادبي ژانر، هنري سبک او ټولنيز يا فکري تصور له مخې وېشلای شو. خو بايد په ياد ولرو چې دا وېشونه د ادب د پېژندلو او مطالعې لپاره دي؛ ادبي واقعيت تر دغو وېشونو ډېر پراخ او پېچلی دی. په دوديزه(روايتي) ادبي تيوری کې ادبيات عموماً په دوو لويو ژانرونو وېشل کېږي: شعر،نثر، چې هغه بيا په خپل ځان کې دننه پر مختلفو ژانرونو وېشلي دي. خو ځينې څېړونکي داستاني، غنايي او ډراماټيک ادبيات د بېلابېلو معيارونو له مخې جلا کوي.

د ژبې له مخې د ادبياتو وېش،ادبيات د ژبو له مخې هم پېژندل کېږي؛ لکه پښتو ادب، دري ادب، فارسي ادب، عربي ادب، اردو ادب، انګرېزي ادب او نور.د هرې ژبې ادبيات د هغې ژبې د ويونکو د تاريخي تجربو، کلتوري ارزښتونو، ټولنيزو بدلونونو او فکري بدلونونو ځانګړې نخښې لري. خو د يوې ژبې ادبيات بايد يوازې د يوې جغرافيې يا يوه قوم په محدوده دايره کې مطالعه نه شي؛ ځکه ژبې او ادبي روايات پولي نه لري. د پښتو ادب بېلګه رااخلو. پښتو ادب د پښتنو د تاريخي او کلتوري تجربو مهمه زېرمه ده، خو موضوعات يې يوازې په پښتني ژوند پورې محدود نه دي. مينه، مرګ، ازادي، عدالت، جګړه، سوله، کډوالي او انساني وقار هغه موضوعات دي چې پښتو ادبيات له نړيوالو ادبي تجربو سره نښلوي.ادبيات د

تاريخي پراوونو له مخې هم وېشل کېږي؛ لکه لرغونی ادب، کلاسیک ادب، منځنی ادب او معاصر ادب. د دغو دورو دقیق حدود د هرې ژبې او ادبي دود له تاریخ سره توپیر لري. د دې وېش ګټه دا ده چې مور د ادبي سبکونو، موضوعاتو، ژبنیو بدلونونو او فکري تصوراتو تاریخي بهیر درک کولای شو. خو باید پام وکړو چې ادبي بدلونونه تل ناڅاپي نه وي؛ کله ناکله د یوه پخوانۍ سبک ځانګړنې په معاصرو اثارو کې هم لیدل کېږي. ادبیات د موضوعاتو له مخې هم مطالعه کېدای شي؛ لکه عشقي، حماسي، عرفاني، فلسفي، ټولنیز، سیاسي، تاریخي او انتقادي ادب. همدارنګه د فکري تصوراتو له مخې د ژمن ادب، ټولنیز واقعیت پال ادب، رومانټیک ادب، سمبولیک ادب او نورو ادبي بهیرونو یادونه کولای شو. خو زما په فکر، دا وېشونه باید د قطعي او نه بدلېدونکو چوکاټونو په توګه ونه ګڼل شي. یو ناول ښایي په عین وخت کې تاریخي، ټولنیز، فلسفي او عشقي اړخونه ولري. په همدې ډول، یو شعر ښایي هم عرفاني وي، هم ټولنیز او هم له انفرادي تجربې سره تړاو ولري.

ژبه څه ده او له ادب سره یې اړیکه څه ډول ده؟ ژبه د انسان د فکر، احساس، تجربې او اړیکو د څرګندولو تر ټولو مهمو وسیلو څخه ده. ژبه یوازې د کلماتو او ګرامري قواعدو مجموعه نه ده؛ بلکې د یوې ټولنې د تاریخي تجربو، کلتوریي حافظې او ګډو ماناوو د انتقال وسیله هم ده. ادب بیا د ژبې له همدې امکاناتو څخه په تخلیقي او هنري ډول ګټه اخلي. په عامو خبرو کې مور ژبه تر ډېره د یوې اړتیا د پوره کولو لپاره کاروو؛ خو په ادبي بیان کې ژبه پخپله د هنري ارزښت یوه برخه ګرځي. د کلمې انتخاب، د جملې جوړښت، د ږغونو هم آهنګی، د تصویرونو رامنځته کول، د کلماتو معنوي کثرت او د اظهار ځانګړی سبک د ادبي اثر په

کیفیت کې اساسي رول لري. د بېلګې په توګه، یو لیکوال کولای شي د غم په اړه په عامه ژبه یوه جمله ولیکي؛ خو یو شاعر همدغه غم د تصویر، استعارې، اهنګ او تخیل په مرسته داسې بیانوي چې لوستونکی یې نه یوازې په عقل، بلکې په احساس هم درک کوي. دلته ژبه تش د پیغام د لېږد وسیله نه ده، بلکې د تجربې د هنري جوړولو وسیله هم ده. هره ژبنۍ وینا ادبي اثر نه دی. مور هره ورځ خبرې کوو، معلومات ورکوو، غوښتنې څرګندوو او د ورځني ژوند چارې ترسره کوو؛ خو دغه ټولې ویناوې ادب نه ګڼل کېږي. ادبي بیان عموماً له تخلیقي جوړښت، هنري انتخاب، ځانګړي سبک، تصویر، عاطفې او یا د مانا له ځانګړي تنظیم سره تړاو لري. البته دا په دې معنا نه ده چې عامه ژبه هنري ارزښت نه شي پیدا کولای. یوه اولسي کیسه، متل، لنډه جمله یا د ورځني ژوند یوه وینا هم د خپل تخلیقي ځواک او معنوي ژورتیا له امله ادبي ارزښت موندلای شي. په همدې اساس، د ادب او عامي ژبې ترمنځ توپیر مطلق نه دی؛ بلکې د ژبې د کارونې په طریقه، مقصد، جوړښت او هنري اغېز پورې تړاو لري. په پای کې ویلی شم چې د ادبیاتو وېش مور سره د ادبي اثارو د پېژندلو، پرتله کولو او شننې په برخه کې مرسته کوي؛ خو هېڅ وېش د ادب ټولې ځانګړنې نه شي رانغاړلای. ژبه د ادب اساسي وسیله ده، خو ادب له ژبې څخه یوازې د پیغام د لېږد لپاره کار نه اخلي؛ بلکې د ژبې په وسیله نوې تجربې، تصویرونه، احساسات او مانا وې هم رامنځته کوي. ژبه ادب ته امکانات ورکوي او ادب د ژبې د پراختیا او بډاینې لپاره نوې لارې پرانیزي. زما په خیال، د ژبې او ادب اړیکه د وسیلې او محصول له ساده اړیکې څخه ډېره ژوره ده؛ دا د فکر، احساس، فرهنګ، تخیل او انساني تجربې یو متقابل بهیر دی. ژبه د انسان د نړۍ د بیان وسیله ده، او ادب د همدې نړۍ د هنري بیاپنځونې یوه مهمه بڼه ده.

مسعود: ژان پل سارتر(۱۹۸۰-۱۹۰۵) چې د شلمې پېړۍ له خورا پنځونکو، مخورو او مهمو فیلسوفانو او اندیزو څخه وو، دغه تکړه لیکوال د خپلو نوموتو اثارو تر څنګ د **(ادب څه شی دی؟)** په نوم یو اثر هم کښلی دی او دا کتاب د لمړي ځل لپاره پر(۱۹۴۸)زېږدیز کال کې خپور شو. ستاسو په اند سارتر د ادب او ادبیاتو د ارزښت، ژمنتیا او پازوالي (مسؤلیت) په اړه څه فکر کاوه؟

استاد سیماب: د سارتر د ادبي نظریې د پوهېدو لپاره باید لومړی دې خبرې ته پام وکړو چې هغه ادب یوازې د ښکلا، خیال او احساس د څرګندولو وسیله نه ګڼله؛ بلکې د انسان د ازادۍ، انتخاب، تاریخي وضعیت او ټولنیز مسئولیت له مسئلو سره یې هم تړلی باله. د هغه د ادب څه شی دی؟ اثر د لیکوال دنده، د لیکلو موخه او له لوستونکي سره د لیکوال اړیکه څېړي. دغه اثر لومړی په (۱۹۴۷)زېږدیز کال کې د مقالو په بڼه خپور شو او په (۱۹۴۸)ز کال کې د کتاب په توګه خپور شو. سارتر په دې باور و چې لیکل یوازې د پېښو او واقعیتونو بیانول نه دي؛ بلکې د نړۍ د هغو اړخونو راڅرګندول هم دي چې خلک یې نه ښایي وویني، خو ژور مفهوم ته یې پام ونه کړي. کله چې یو لیکوال د بې وزلۍ، ظلم، جګړې، تبعیض یا انساني کړاو په اړه لیکي، نو یوازې یوه موضوع نه بیانوي؛ بلکې د لوستونکي پام یوې ځانګړې مسئلې ته اړوي او هغه هڅوي چې د خپل چاپېریال په اړه فکر وکړي.په دې معنا، لیکل یو ډول عمل دی؛ ځکه د نړۍ په اړه زموږ د پوهې او قضاوت په جوړولو کې برخه اخلي.د سارتر د ادبي فکر تر ټولو مشهوره ځانګړنه د ژمن ادب نظریه ده. د دې نظریې له مخې، لیکوال باید د خپل عصر له واقعي مسئلو څخه ځان ګوښه نه کړي. هغه په یوه ځانګړي تاریخي، سیاسي او ټولنیز صورتحال کې ژوند کوي، او لیکنه یې هم په هماغه وضعیت کې مانا پیدا

کوي. د سارتر په فکر، لیکوال د خپلو موضوعاتو، کرکټرونو، ژبې او د بیان د طریقې په انتخاب سره یو دریځ خپلوي. ان چوپتیا هم په ځینو شرایطو کې پایلې لري؛ ځکه د ظلم او نابرابرۍ په وړاندې د خبرو نه کول ښایي د موجود وضعیت د دوام سبب شي. خو ژمن ادب یوازې سیاسي شعار نه دی. د سارتر له نظره، د لیکوال اساسي دنده دا ده چې د خپل وخت واقعیتونه په روښانه او مسئولانه ډول وړاندې کړي او لوستونکی د انساني ازادۍ او انتخاب په اړه فکر کولو ته وهڅوي. سارتر د وجودیت له فلسفې سره تړاو لري او ازادي یې د انسان د ژوند له مهمو مسئلو څخه ګڼله. د هغه په ادبي نظریه کې هم د لیکوال او لوستونکي ازادي مرکزي ځای لري. د سارتر په اند، ادبي تخلیق د لیکوال او لوستونکي ترمنځ یو ډول اړیکه ده چې په هغې کې دواړه د ازادۍ او مسئولیت وندې لري. سارتر د نثر او شعر ترمنځ یو ځانګړی توپیر کاوی، هغه په خپل اثر کې نثر د مانا، مفهوم او ټولنیز بیان له مخې څېړي او استدلال کوي چې نثر لیکوال د نړۍ د افشا کولو لپاره له کلمو څخه کار اخلي. د شعر په اړه یې نظر تر یوه حده توپیر درلود؛ ځکه هغه شعر تر ډېره د ژبې له ږغیزو، تصویري او هنري اړخونو سره تړلی باله. خو د دې توپیر له امله باید داسې ونه ګڼو چې سارتر د شعر یا ښکلا ارزښت په مطلق ډول رد کړی و. د هغه اصلي بحث دا و چې د نثر لیکوال څنګه د ژبې په کارولو سره د خپل عصر له مسئلو سره اړیکه پیدا کوي. د شعر په اړه د هغه دغه دریځ د ادبي تیورۍ له هغو برخو څخه دی چې وروسته وروانديِ بحثونه او نیوکې شوې دي. که د سارتر نظریه د پښتو ادب له تجربو سره وتړو، نو وینو چې زموږ په ادبي تاریخ کې د ژمنتیا ښلګې ډېرې دي. هغه شعرونه چې د ازادۍ، عدالت او انساني وقار ږغ پورته کوي. هغه داستاني ادب چې د جګړې، کډوالۍ، بې وزلۍ او ټولنیزو ناخوالو انځور وړاندې کوي. هغه ادبي اثار چې د انسان د هویت، ژبې، فرهنګ او

ټولنیز وضعیت په اړه پوښتنې راپورته کوي. دا ډول اثار د ژمنتیا له نظریې سره د بحث وړ اړیکه لري؛ خو د هغوی ادبي ارزښت باید یوازې د موضوع له مخې ونه ارزول شي. د ژبې بڼکلا، د خیال ځواک، د بیان صداقت او د اثر جوړښت هم مهم دي. په اخر کې به ووایو چې د سارتر د ادبي فکر لنډیز په دې کېدای شي چې لیکل یوازې د کلماتو هنري ترتیب نه دی؛ بلکې د نړۍ د افشا کولو، د انساني ازادۍ د مطرح کولو او د خپل عصر پر وړاندې د دریځ څرګندولو یوه وسیله هم ده.

مسعود: تاسو د تمدن، فرهنګ، هنر او کلتور د ویيو (اصطلاحاتو) د پېژندلو یا تعریفولو په اړه څه ډول اند لرئ؟ ادبي ژانرونه څنګه ارزوئ؟

استاد سیماب: تمدن، کلتور او هنر هغه تصورات دي چې له یو بل سره نږدې اړیکې لري، خو د مانا او مفهوم له مخې ځینې توپیرونه هم لري. تمدن تر ډېره د یوې ټولنې د مادي او تنظیمي پرمختګونو، لکه بڼارونو، علم، ټکنالوجۍ، ادارو او ټولنیز نظم، څرګندونه کوي. فرهنګ او کلتور په ډېرو علمي او ورځنیو استعمالونو کې مترادف ګڼل کېږي. دواړه د یوې ټولنې ګډ ارزښتونه، باورونه، دودونه، ژبه، اداب، پوهه او د ژوند طرز رانغاړي. البته د ځینو علمي مکتبونو او ژبنیو دودونو له مخې د دغو دوو اصطلاحاتو په کارونه کې توپیرونه هم لیدل کېږي. هنر بیا د انسان د تخیل، احساس، فکر او تجربې تخلیقي او بڼکلا اظهار دی. شعر، موسیقي، انځورګري، مجسمه سازي ، تیټر او ادبیات د هنر بېلابېلې بڼې دي. هنر د یوې ټولنې د کلتور برخه ده، خو د انسان د نوښت او انفرادي تجربې څرګندونه هم کوي. پاته شوه ادبي ژانرونه نو ادبي ژانرونه باید د هغوی د موضوع، جوړښت، ژبې، هنري تکنیک او اغیز له مخې وارزول شي. شعر، لنډه کیسه، ناول، ډرامه او ادبي مقاله هر یو خپل ځانګړي ادبي اصول او امکانات لري. د بېلګې په توګه، په

شعر کې خیال، عاطفه، تصویر او اهنګ مهم دي؛ په ناول او کیسه کې د کردارنګاری، پېښې، روایت او د ژوند انځورول ارزښت لري؛ او په ډرامه کې مکالمه، عمل او تصادم اساسي رول لوبوي. خو زما په اند، د ژانرونو ترمنځ باید مطلق دیوالونه جوړ نه کړو؛ ځکه معاصر ادب ډېر ځله د بېلابېلو ژانرونو ځانګړنې سره یو ځای کوي. همدارنګه، د ادبي اثر ارزښت باید یوازې د هغه د ژانر له مخې ونه تاکل شي، بلکې د هنري نوښت، فکري ژورتیا او انساني تجربې له مخې هم وارزول شي. په پای کې، تمدن د ټولنیز پرمختګ، فرهنګ د ګډو ارزښتونو او دودونو، او هنر د تخلیقي بیان له مهمو اړخونو سره تړاو لري؛ ادبیات بیا د هنر په توګه د انسان او ټولنې د پېژندلو، د فرهنګي حافظې د ساتلو او د نوو فکرونو د رامنځته کولو مهمه وسیله ده.

مسعود: ستاسو په اند ادبي مکتبونه، ادبي سبک، تګلوري او ارزښت یې، همدا راز ادبي ټوټې (ژانرونه) څه پېژندنه(تعریفونه) لري، کوم مکتوبونه کولای شو د ادبي مکتبونو په نوم ونومولای شو؟

استاد سیماب: زما په اند، ادبي مکتبونه او سبکونه د ادبیاتو د پېژندنې، شننې او ارزونې مهم تصورات دي. ادبي مکتبونه د ځانګړو فکري، فلسفي او هنري نظریاتو استازیتوب کوي، خو سبک د یوه لیکوال یا ادبي بهیر د بیان ځانګړې طریقه ده.

ادبي مکتب: هغه فکري او ادبي بهیر دی چې د نړۍ، انسان، ټولنې او هنر په اړه ځانګړي اصول او نظریه لري.

ادبي سبک: د لیکوال یا شاعر د بیان ځانګړې طریقه ده چې د ژبې، کلمو، تصویرونو، خیال، جوړښت او هنري تکنیکونو له لارې څرګندېږي او فني رغښت لري.

ادبي تګلوری(رجحان): هغه عمومي فکري لوری دی چې یو لیکوال یا د لیکوالانو یوه ډله یې په خپلو اثارو کې تعقیبوي. زما په خیال تصور چې کله په رجحان بدل شي او بیا د تحریک بڼه واخلي نو ادبي مکتب په وجود کي راځي چې خپل اصول او تګ لاره لري، خو هر تګلوری حتمي نه ده چې منظم مکتب وي.

ادبي ژانر: د ادبي اثارو هغه ډول یا صنف دی چې د جوړښت، بیان او هنري ځانګړنو له مخې پېژندل کېږي؛ لکه شعر، ناول، لنډه کیسه، ډرامه او ادبي مقاله.

کوم ادبي مکتبونه پېژنو؟ په نړیوال ادب کې ګڼ ادبي مکتبونه او هنري بهیرونه شته، چې مهم یې دا دي:

کلاسیزم: د نظم، تناسب، عقلیت،روایت او پخوانیو هنري اصولو ارزښت په پام کې نیسي.

رومانټیسیزم: خیال، جذبه، انفرادیت، آزادي، فطرت او د انسان باطني نړۍ ته ځانګړی اهمیت ورکوي.

واقعیت پالنه (ریالیزم): د انسان او ټولنې ژوند، ټولنیزې اړیکې او واقعي ستونزې انځوروي.

سمبولیزم: د سمبولونو، اشارو، موسیقۍ او غیرمستقیم بیان له لارې ژورې مانا وړاندې کوي.

مادرنیزم: د دودیزو ادبي جوړښتونو د بدلون، نوې تجربې او د انسان د معاصرې نړۍ د پېچلتیاوو د بیان هڅه کوي.

سوریالیزم: د خوبونو، ناخوداګاه ذهن، ازاد تخیل او نامعمولو انځورونو له لارې د واقعیت روایتي حدودو ماتوي.

اظهار پسندي(Expressionism): د بهرني واقعيت د نقل پر ځای د انسان داخلي احساسات، اضطراب او ذهني تجربې په مبالغه آميزه بڼه څرګندوي.

پوسټ ماډرنيزم: مابعد جديديت د جديديت ضد نظريه ده.کومه فلسفه يا نظريه چې به ادب کې د جديديت له خوا ورکول شوې وه چې دا نړۍ د يوه کلي حثيت لري نو بايد تهذيب،کلتور او نور شيان يو نړيوال حثيت خپل کړي.خپل تهذيب او کلتور و يو نړيوال او غټ کلتور او تهذيب ته تسليم کړي او په سائنسي بنيادو باندي د ژوند خبنته کښېږدي. مابعد جديديت د دې مفکورې ضد مفکوره ده. په لنډه توګه :جديديت تر ډېره پر عقل، پرمختګ او عمومي اصولو ټينګار کوي؛ خو پوسټ ماډرنيزم د دغو اصولو د مطلقوالي په اړه شک څرګندوي او د کلتوري، فکري او ادبي تنوع ملاتړ کوي. له دې سره سره نور هم ډېر مکتبونه شته چې په ادبياتو کې شتون لري.

د ادبي مکتبونو ارزښت څه دی؟ ادبي مکتبونه مورِ سره مرسته کوي چې د ادبي اثارو فکري بنسټونه، هنري ځانګړنې او تاريخي شرايط وپېژنو. د بېلګې په توګه، د رومانټيک شاعر او واقعيت پال ليکوال د نړۍ د ليدلو او بيانولو طريقې توپير سره لري. خو بايد په ياد ولرو چې هر ليکوال تر يوه مکتب پورې په بشپړ ډول محدود نه وي. يو اثر ښايي د څو مکتبونو ځانګړنې ولري، او ځينې ليکوالان خپل ځانګړی سبک رامنځته کوي چې په يوه ټاکلي مکتب کې نه ځايېږي. په پای کې، ادبي مکتب د فکر او هنر ګډ ليد لوری، سبک د بيان ځانګړې طريقه، تګلوری د تخليقي حرکت عمومي جهت او ژانر د ادبي اثر ډول دی. د دغو مفاهيمو سمه پېژندنه مورِ سره مرسته کوي چې ادبيات يوازې د لوستلو، بلکې د ژورې شننې او هنري ارزونې په وسيله هم وپېژنو.

مسعود: تاسو د ادبي مکتبونو په بهير کې د ادبي ژانرونو د بنسټيزو بدلونونو د ودې او پرمختيا په اړه څنګه اندئ؟

استاد سيماب: زما په فکر، ادبي ژانرونه ثابت او نه بدلېدونکي قالبونه نه دي، بلکې د ټولنيزو، فرهنګي، فلسفي او تاريخي بدلونونو تر اغېز لاندې وده کوي او نوې بڼې خپلوي. د ېلګې په توګه، رومانټيسيزم په شعر او داستان کې د احساس، خيال او فردي ازادۍ ارزښت پياوړی کړی؛ واقعيت پالنې د ټولنيز ژوند او انساني اړيکو انځورولو ته پراختيا ورکړه؛ او ماډرنيزم په ناول او شعر کې د روايت، ژبې، زمان او جوړښت دوديز اصول تر پوښتنې لاندې راوستل. همدارنګه، د ناول او لنډې کيسې وده د معاصر انسان د تجربو، ټولنيزو بدلونونو او د لوست د فرهنګ له پراختيا سره تړاو لري. په معاصر ادب کې د شعر، داستان او ډرامې ترمنځ د پولو ماتېدل او د نويو هنري تجربو رامنځته کېدل هم د همدې بهير يوه برخه ده. د ادبي ژانرونو بدلون يوازې د ليکوالانو د نوښت پايله نه ده؛ بلکې د ټولنې د ژوند، د انسان د فکر، د ژبې د بدلون او د نوو رسنيو د اغېزو انعکاس هم دی.په لنډه توګه، ادبي مکتبونه د ژانرونو پر موضوع، جوړښت او بيان اغېز کوي، او ژانرونه بيا د نوو هنري تجربو له لارې د ادبي مکتبونو د پراختيا او بدلون زمينه برابروي. دا يو متقابل بهير دی چې ادبيات ژوندي، خوځنده او له خپل عصر سره تړلي ساتي.

مسعود: د هيڅ ادبي مکتب رامنځته کېدنه ناڅاپه او له سريزې پرته نه وي، د هر يوه دېرې نښې د پخوانۍ دورې په ادبي اثارو کې موندل کېدای شي. تاسو هغه لاملونه او توکي څنګه ارزوئ چې د ادبي مکتبونو د پيدايښت، جوړېدنې، بدلون، ودې او پرمختګ او د له منځه تللو لامل ګرځي؟

استاد سیماب: واقعي هم داسي ده، ادبي مکتبونه د تاریخي، ټولنیزو، فرهنګي، فلسفي او هنري بدلونونو پیداوار دي. لکه څنګه چې تاسو اشاره وکړه، هېڅ ادبي مکتب په تشه فضا کې نه رامنځته کېږي؛ بلکې د هغه فکري او هنري جړې تر ډېره د پخوانیو ادبي تجربو په منځ کې موجودې وي. د ادبي مکتبونو د پیدایښت او پرمختګ څو مهم لاملونه دي، ټولنیز او تاریخي بدلونونه: جګړې، انقلابونه، سیاسي بدلونونه، اقتصادي بحرانونه او د ټولنیزو اړیکو تحول د نویو ادبي لیدلورو د رامنځته کېدو زمینه برابروي.

فلسفي او فکري ارتقاء: د انسان، ازادۍ، حقیقت، ژوند او ټولنې په اړه نوي افکار د ادبي مکتبونو پر موضوعاتو او هنري تګلارو اغېز کوي. نوي مکتبونه کله ناکله د پخوانیو مکتبونو اصول پراخوي، کله یې نقدوي او کله ورڅخه د بېلتون هڅه کوي. د بېلګې په توګه، رومانټیسیزم تر یوه بریده د کلاسیزم پر وړاندې د احساس، خیال او انفرادیت، ازادۍ د ارزښتونو د پیاوړتیا له لارې وده وکړه. د نوښتګرو لیکوالانو، شاعرانو، نقادانو، ادبي ټولنو او مجلو فعالیتونه د یوه ګډ ادبي لید لوري په رامنځته کېدو او پراختیا کې مهم رول لري.

ادبي مکتبونه څنګه بدلېږي او له منځه ځي؟ ادبي مکتبونه تل په یوه ثابت حالت کې نه پاتې کېږي. کله چې د یوه مکتب اصول د نوو ټولنیزو او فکري اړتیاوو د بیان لپاره بسنه ونه کړي، نو د هغه مکتب فکر په داخل کې نوي تصورات راڅرګندېږي. ځینې لیکوالان یې اصول اصلاح کوي او ځینې نور بیا د متبادل مکتب د رامنځته کولو هڅه کوي. خو د یوه مکتب کمزوري کېدل یا د هغه د نفوذ کمېدل په دې معنا نه دي چې ټول ادبي ارزښتونه یې له منځه ځي. د یوه پخواني مکتب هنري ځانګړنې ښایي په نویو ادبي بهیرونو کې هم ژوندۍ پاتې شي. د بېلګې

په توګه، د رومانټیسیزم ځینې ځانګړنې، لکه د انفرادي احساساتو او تخیل ارزښت، په هغو ادبي اثارو کې هم لیدل کېدای شي چې په نورو مکتبونو پورې تړاو لري. زما په اند، ادبي مکتبونه د ادبي تاریخ د یوه پرله پسې او متقابل بهیر برخه دي. هر مکتب له پخوانیو تجربو څخه څه اخلي، د خپل عصر اړتیاوو ته ځواب وایي او په خپل وار د راتلونکو ادبي بدلونونو لپاره زمینه برابروي. له همدې امله، د ادبي مکتبونو تاریخ باید د جلا جلا او ناڅاپي پېښو په توګه ونه ځپړو، بلکې د دوام، بدلون، نقد او نوښت د یوه ګډ بهیر په توګه یې درک کړو.

مسعود: ستاسو په اند یو لیکوال او شاعر څنګه کولای شي چې هم د یو مکتب پلیونې اووسي او هم خپل ځانګړی چلندلار او دود ولري؟

استاد سیماب: د یوه ادبي مکتب پیروي او د ځانګړي سبک لرل یو د بل مخالف نه دي. ادبي مکتب لیکوال ته یو عمومي فکري چوکاټ وړاندې کوي، خو سبک د هغه د انفرادي تجربو، شخصیت، تخیل، ژبې او هنري نوښت څرګندونه کوي. ځکه چې سبک په فني حواله رغښت والی لري او مکتب په فکري حواله. د بېلګې په توګه، دوه شاعران ښایي دواړه رومانټیسیزم ته نزدې وي؛ دواړه د طبیعت او مینې احساسات انځور کړي او د فردي ازادۍ، یوازیتوب او داخلي کړاوونو په خپل خپل انداز بیان کړي په دې توګه، دواړه د یوه مکتب سره تړاو لري، خو د بیان طریقه او هنري رغښت یې توپیر لري. لیکوال هغه وخت خپل ځانګړی سبک رامنځته کولای شي چې د مکتب اصول یوازې تقلید نه کړي، بلکې په خپل فکر او تجربه کې یې هضم کړي، له خپلې ژبې او فرهنګي چاپېریال سره یې وتړي او د نوښت جرئت ولري.البته، هر لیکوال اړ نه دی چې حتماً د یوه مشخص ادبي مکتب پیرو وي. ځینې لیکوالان د بېلابېلو مکتبونو ځانګړنې سره یوځای کوي او

کله ناکله داسې نوې هنري لارې رامنځته کوي چې په یوه مکتب کې په بشپړه توګه نه ځایېږي. په لنډه توګه، ادبي مکتب د لیکوال د فکري او هنري لید لوري عمومي چوکاټ دی، خو شخصي سبک یې د تخلیقي خپلواکۍ او نوښت څرګندونه کوي. لوی لیکوال هغه نه دی چې یوازې د یوه مکتب اصول تکرار کړي، بلکې هغه دی چې له ادبي میراث څخه په ګټې اخیستنې خپله ځانګړې هنري نړۍ رامنځته کړي.

مسعود: تاسو کلاسیک ادب څنګه راپېژنئ؟ د دې ادبیاتو تر ټولو اړینې ځانګړنې او مهمې ځانګړتیاوې کومې دي؟

استاد سیماب: کلاسیک ادب هغه ادبي میراث ته ویل کېږي چې د هنري ارزښت، فکري ژورتیا، ژبنۍ ځواک او تاریخي اغېز له مخې د یوه ملت یا بشریت په ادبي تاریخ کې ځانګړی مقام لري. کلاسیک ادب یوازې د پخوانیو زمانو ادب نه دی؛ بلکې هغه اثار هم کلاسیک ګڼل کېږي چې له خپل تاریخي چاپېریال څخه هاخوا د لوستونکو لپاره ارزښت او مانا ولري. د ژبې ښکلا، د کلمو دقیق انتخاب، د بیان فصاحت او د هنري انځورونو اغېزمنتیا. د انسان، ژوند، مینې، مرګ، اخلاقو، ازادۍ او ټولنې په اړه ژورې پوښتنې او غور و فکر. په ډېرو کلاسیکو اثارو کې د وزن، قافیې، نظم، تناسب او ادبي اصولو مراعات لیدل کېږي؛ خو دا ځانګړنې د ټولو کلاسیکو اثارو لپاره یو شان نه دي. د انساني تجربو، حکمت، اخلاقو او د ژوند د مانا په اړه بحثونه. دوامداره ارزښت: کلاسیک اثار د بېلابېلو زمانو لوستونکو ته د نوې پوهې، احساس او تفسیر زمینه برابروي. هغه خپل دور متاثره کړی وي او هر دور متاثره کوي. د یوې ټولنې د ژبې، تاریخ، دودونو او فکري میراث په ساتنه کې مهم رول لري. د پښتو ادب په تاریخ کې د خوشحال

خان خټک، رحمان بابا او حمید مومند شاعري د کلاسیک ادب د مهمو بېلګو په توګه یادولای شو. د دوی په اثارو کې د انسان، اخلاقو، عرفان، ټولنې او ژوند په اړه بېلابېل فکري او هنري لیدلوري لیدل کېږي .دوی خپل دور متاثر کړی دی او هر دور متاثروي لګیا دي. البته، کلاسیک ادب باید یوازې د پخوانیو اصولو او دودونو له مخې ونه ارزول شي. د هغه د هنري ارزښت، تاریخي شرایطو او د هرې دورې د لوستونکو د تفسیر امکانات هم باید په پام کې ونیول شي. په لنډه توګه، د کلاسیک ادب ارزښت یوازې په لرغونتوب کې نه دی، بلکې په هنري ځواک، فکري ژورتیا، فرهنګي اهمیت او د زمانې له بدلونونو سره د مانا د بیا رامنځته کولو په وړتیا کې دی.

مسعود: د نړېوال کلاسیکو ادبیاتو تر ټولو مهم او پېژندل شوي لیکوال څوک ول؟ ښه به وي که تاسو د هغوی د نامتو او ګټورو نښیرونو(اثارو) په ټراو رڼا واچوئ.

استاد سیماب: نړیوال کلاسیک ادب د بشري تمدن یوه ستره فکري او هنري شتمني ده. د نړۍ په بېلابېلو ژبو کې داسې لیکوالان او شاعران تېر شوي چې اثار یې د انسان، ټولنې، مینې، عدالت، ازادۍ، اخلاقو او ژوند په اړه ژورې پوښتنې راپورته کړې دي. البته، د کلاسیکو لیکوالانو نومړ د یوې ځانګړې ژبې یا سیمې په چوکاټ کې نه شي محدودېدای. ځینې داسې نومونه مورِ یادولای شو د نمونې په ټوګه چې هغه د کلاسیک درجه خپله کړې ده،لکه د لرغوني یونان او روم په ادبیاتو کې **هومر(Homer)** د لرغوني یونان له مشهورو شاعرانو څخه دی. د هغه دوه مشهور حماسي اثار ایلیډ (Iliad) او اوډیسي (Odyssey) دي. په دغو اثارو کې جګړه، اتلولي، وفاداري، برخلیک او د انسان د ژوند کړاوونه انځور شوي دي. **سوفوکلس(Sophocles)** د یوناني ټریجډۍ ستر لیکوال و. د هغه مشهوره ډرامه

اوديپ پاچا (Oedipus Rex) د انسان، برخليک، حقيقت او مسئوليت ترمنځ پېچلې اړيکې څېړي. **ويرجل(Virgil)** د روم له نامتو شاعرانو څخه و. د هغه حماسي اثر انيډ (Aeneid) د اتلولۍ، وطن، دندې او د روم د تاريخي تصور په اړه دی. د منځنيو پېړيو او ختيځ کلاسيک ادب کې **فردوسي** د فارسي ژبې ستر حماسه ليکوال دی. د هغه شاهنامه د ايراني اساطيرو، اتلانو، پاچاهانو او تاريخي روايتونو ستر منظوم اثر دی. د ژبې، هويت او فرهنګي حافظې په ساتنه کې ځانګړی ارزښت لري. **مولانا جلال‌الدين بلخي (رومي)** د عرفاني ادب له مشهورو شاعرانو څخه دی. مثنوي معنوي او ديوان شمس يې مهم اثار دي. په شعرونو کې يې مينه، عرفان، د انسان باطني سفر او د حقيقت لټون اساسي موضوعات دي. د يورپ د کلاسيک ادب نامتو ليکوالان **ويليم شکسپير(William Shakespeare)** د انګرېزي ژبې له سترو ډرامه ليکوالو څخه دی. **هملېټ(Hamlet)** ، مکبث (Macbeth)، اوټېلو (Othello) او روميو او جوليټ (Romeo and Juliet) يې مشهور اثار دي. د قدرت، حسد، مينې، وجدان او انساني کمزوريو په انځورولو کې ځانګړی مقام لري. **ګويټې(Goethe)** د جرمني له مشهورو شاعرانو او ليکوالانو څخه دی. فاوست (Faust) يې د پوهې، غوښتنې، وسوسې، اخلاقي مسئوليت او د انسان د نه مړېدونکې لټون په اړه ستر اثر دی. **ويکټور هوګو(Victor Hugo)** د فرانسوي ادب مهم ليکوال و. بېوزلان (Les Misérables) يې د فقر، عدالت، رحمت، ټولنيزې نابرابرۍ او انساني کرامت موضوعات څېړي. **دوستويفسکي (Fyodor Dostoevsky)** د روسي ناول له ستړو ليکوالانو څخه دی. جرم او سزا (Crime and Punishment)او د کارامازوف وروڼه (The Brothers Karamazov) يې مشهور اثار دي. د وجدان، ګناه، ايمان، ازادۍ او انساني روان د پېچلتياوو ژوره شننه پکې ليدل کېږي. **ليو ټالستای(Leo Tolstoy)** د روسي ادبياتو ستر

ناول‌لیکوال و. جګړه او سوله (War and Peace) او انا کارېنینا (Anna Karenina) يې نړیوال شهرت لري. د جګړې، کورنۍ، مینې، ټولنیزو اړیکو او اخلاقي انتخابونو پراخ انځور وړاندې کوي. **رابیندرانات ټېګور(Rabindranath Tagore)** د بنګالي ادب او نړۍ والې ادبي نړۍ مهم شاعر او لیکوال و. ګیتانجلي (Gitanjali) يې مشهور اثر دی. په اثارو کې يې مینه، روحانیت، طبیعت او انساني ازادي مهم ځای لري. زما په فکر، د دغو لیکوالانو اهمیت یوازې په دې کې نه دی چې مشهور اثار يې پرېښي دي؛ بلکې په دې کې هم دی چې د انسان د ژوند بېلابېلې تجربې يې په داسې هنري ژبه بیان کړې دي چې د زمانې او جغرافیې له پولو هاخوا د لوستونکو لپاره د فکر سرچینه پاته شوې ده. د دوی له اثارو څخه مور د انسان د شخصیت، ټولنیزو اړیکو، اخلاقي ستونزو، سیاسي قدرت، مینې، جګړې، سولې او د ژوند د مانا په اړه ډېر څه زده کولای شو. په پای کې، کلاسیک ادب د بشري حافظې ګډه شتمني ده. د دې اثارو لوستل نه یوازې زمور ادبي ذوق پیاوړی کوي، بلکې د نورو ملتونو له فرهنګونو سره مو اشنا کوي او زمور د خپل ادب د ژورې پېژندنې لپاره هم زمینه برابروي.

مسعود: تاسو لرغونی یا د کلاسیزم ښوونځی څنګه پېژنئ او ارزوئ، کوم چې د اروپا د (۱۷) مې پیړۍ په دویمه نیمایي کې یو ځانګړی هنري او فرهنګي خوځښت دی؟ ښه به وي که تاسو د دې مکتب د تاریخ، آر او بنسټ په اړه لنډ مالومات راکړئ، چیرته، کله او د چا لخوا جوړ کړای شوی او لومړني بنسټ ایښودونکي يې څوک ول.

استاد سیماب: کلاسیزم (Classicism) د یورپ په ادبي او هنري تاریخ کې یو مهم مکتب دی چې د لرغوني یونان او روم له ادبي، فلسفي او هنري میراث څخه

الهام اخلي. د دې مکتب بنسټ پر عقلیت، نظم، تناسب، اعتدال، وضاحت او د هنري اصولو پر مراعات ولاړ دی. البته، باید یوه تاریخي خبره روښانه کړو: کلاسیزم یوازې د اوولسمې پېړۍ محصول نه دی بلکې د لرغوني یونان او روم د کلاسیک روایتونه څخه سرچینه اخلي، په پنځلسمه او شپاړسمه پېړۍ کې د یورپ د رنسانس له لارې بیا راژوندي شول،او په ځانګړې ډول د اوولسمې پېړۍ په فرانس کې یې منظم او اغېزناک ادبي شکل غوره کړی. د اوولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې خپل اوج ته ورسېدی. د دې مکتب فکري سرچینې د لرغوني یونان او روم په ادبیاتو او هنري اصولو کې پرتې وې. د ارسطو او هوریس ادبي نظریاتو هم د کلاسیک پالنې پر اصولو اغېز درلود. دا مکتب کوم یوه شخص په یوازې ځان نه دی رامنځته کړی؛ بلکې د څو شاعرانو، لیکوالانو او ادبي نقادانو د هڅو په پایله کې ورو ورو منظم شوی دی. د کلاسیزم مهم مخکښان فرانسوا **دو مالرب (François de Malherbe):**د اوولسمې پېړۍ په پیل کې یې د فرانسوي شاعرۍ د ژبې د پاکوالي، نظم او د بیان د دقت لپاره هڅې وکړې.

پیر کورنی:(Pierre Corneille)

د فرانسوي کلاسیکي ډرامې له مهمو بنسټګرو څخه و. سید (Le Cid) او سینا (Cinna)یې مشهور اثار دي. **ژان راسین (Jean Racine)** په خپلو تریجیډیو کې یې د انساني جذباتو، اخلاقي کشمکشونو او منظم هنري جوړښت ځانګړی انځور وړاندې کړ. فیدرا (Phèdre) یې مشهور اثر دی. **مولیر :(Molière)** د فرانسوي کلاسیکي کومیډۍ ستر لیکوال و. تارتوف (Tartuffe) او کنجوس (L’Avare) یې مشهورې ډرامې دي. **نیکولس بوایلو :(Nicolas Boileau)** د کلاسیزم له مهمو

نظریه پردازانو څخه و. هغه د خپل اثر د شاعرانه هنر (L'Art poétique) له لارې د کلاسیک ادب اصول په منظم ډول تشریح کړل.

ژان دو لافونتین :(Jean de La Fontaine) د خپلو تمثیلي حکایتونو له لارې یې اخلاقي او ټولنیزې مسئلې په هنري ژبه بیان کړې.

د دې مکتب مهم اصول په لاندې ډول دي:

- پر موادو هئیت ته ترجیح ورکول.
- پر جدت قدامت ته ترجیح ورکول.
- پر وجدانیت و عقلیت ته ترجیح ورکول.
- پر آزادی و پابندی ته ترجیح ورکول.
- پر جذبه و تکنیک تر ترجیح ورکول.
- د تخیل پر ځای ادبي اصول او قواعد پلي کول.
- پختګي او کاملیت
- د لرغونو اثارو پیروي کول. د یونان او روم له کلاسیکو اثارو څخه الهام اخیستل.

زما په فکر، د کلاسیزم تاریخي ارزښت په دې کې دی چې ادب ته یې د هنري نظم، ژبني دقت، فکري وضاحت او د انسان د شخصیت د ژورې مطالعې اصول وړاندې کړل. خو د دې مکتب پر ځینو سختو قواعدو نیوکې هم شوې دي؛ چې په نتیجه کې رومانټیسزم مکتب په مخالفت کې رامنځ ته شو. او نو کلاسیزم هم د دې قواعدو نتیجه ده. په پای کې، کلاسیزم یوازې د پخوانیو اثارو تقلید نه و،

بلکې د هنري نظم، عقلیت او ښکلا د یوه ځانګړي تصور استازیتوب یې کاوی. دې مکتب فکر د یورپ پر ادبیاتو خاص کر پر ډرامه لیکلو ژور اغېز پرېښود او وروسته رومانټیسیزم هم تر د همدې کلاسیکو اصولو پر وړاندې د غبرګون په توګه راڅرګند شو.

مسعود: د لرغونو یا کلاسیکرانو موخې، اندې، ځانګړتیاوې او لیدلوري په کومو بنسټونو څرخېدې او کوم خوځښت وو چې د دې مکتب په جوړښت او پېدایښت کې یې نیغ پر نیغه رغنده اغېز درلود؟

استاد سیماب: لکه څنګه چې مې وړاندې وویل چې د کلاسیزم بنسټ پر عقلیت، نظم، اعتدال، تناسب او د لرغوني یونان او روم پر ادبي او هنري میراث ولاړ و. کلاسیک پالو هڅه کوله چې په ادبي اثارو کې ښکلا، وضاحت، منطقي ربط او د انساني فطرت واقعي اړخونه په متوازن ډول څرګند کړي. د رنسانس یا بیا راژوندي کېدو خوځښت د کلاسیزم په جوړېدو کې بنسټیز رول درلود. رنسانس په یورپ کې د یونان او روم د لرغوني علم، فلسفې، ادبیاتو او هنرونو د بیا موندلو او مطالعې زمینه برابره کړه. دغه فکري بدلون د انسان، عقل او هنري ښکلا په اړه د نوو لید لورو د ودې لامل وګرځېدی. وروسته، په اوولسمه پېړۍ کې، په ځانګړي ډول په فرانس کې، کلاسیک پالنه د یوې منظمې ادبي تګلارې په توګه پیاوړې شوه. د **مالرب، کورني، راسین، مولیر او بوالو** په څېر لیکوالانو او نقادانو په دې بهیر کې مهم رول ولوباوه. باید یادونه وکړو چې کلاسیزم یوازې د رنسانس د دورې پیداوار نه و؛ بلکې د لرغوني میراث، د رنسانس د فکري بدلونونو او د اوولسمې پېړۍ د فرانسې د ادبي او فرهنګي شرایطو ګډه پایله وه. په لنډه توګه، رنسانس د کلاسیکو نظریاتو د بیا راژوندي کېدو مهمه زمینه برابره کړه، او فرانسوي کلاسیزم

دغه میراث د نظم، عقلیت، اعتدال او هنري اصولو په یوه منظم ادبي بهیر بدل کړ.

مسعود: تاسو د بشرپالنې (اومانیسم) د غورځنګ د موخو او لیدلورو په اړه څه اند لرئ، چې د کلاسیزم د مکتب په جوړښت کې یې په نیغه اغیزه درلوده؟ تاسو د کلاسیزم په کارونو، په ځانګړي توګه د فرانسې د لرغونیزو(کلاسیکو) نښیرونو (اثارو) په کارونو کې د هغه آر، بنسټ او اغیز څنګه ارزوئ؟

استاد سیماب: بشرپالنه (Humanism) د یورپ د رنسانس له مهمو فکري تحریکونو څخه وو چې د انسان پر ارزښت، عقل، پوهې، ازادۍ او صلاحیتوو یې ټینګار کاوی. دې تحریک هڅه کوله چې د لرغوني یونان او روم ادبي، فلسفي او هنري میراث بیا راژوندی کړي او د انسان د فکري او فرهنګي ودې لپاره ورځخه ګټه واخلي. د بشرپالنې مهم مقاصد د انسان د شخصیت وده، د عقل او زده کړې پیاوړتیا، د انتقادي فکر روزنه او د انساني وقار درناوی وو. دې لیدلوري انسان د ادبیاتو او هنرونو د مطالعې مرکز وګرځاوی او د انساني تجربو، عواطفو او ټولنیزو اړیکو د څېړنې لپاره یې نوې زمینه برابره کړه. بشرپالنې د کلاسیزم لپاره فکري او فرهنګي زمینه برابره کړه؛ خو د فرانسوي کلاسیزم په جوړښت کې د عقل پالنې، د لرغوني میراث د مطالعې او د اوولسمې پېړۍ د فرانسې د ټولنیزو او سیاسي شرایطو اغیز هم مهم و. د فرانسوي کلاسیکو ادبیاتو په اثارو کې د بشرپالنې اغیز په څو برخو کې لیدل کېږي. د انسان د شخصیت څېړنه: **مولیر** په خپلو کامیډیو کې د انسان حرص، ریا، ځان‌غولونه او ټولنیزې کمزورۍ انځور کړې دي. د انساني عواطفو او اخلاقو بیان: **راسین** په خپلو ټریجډیو کې د مینې، حسد، وجدان او اخلاقي کشمکشونو ژوره شننه کړې ده. د عقل او اعتدال ارزښت: کلاسیک پالو د

هنري نظم، وضاحت او منطقي انسجام مراعات ته ځانګړی اهمیت ورکاوی. د لرغوني میراث بیاکارونه: د یوناني او رومي ډرامو، اساطیرو او فلسفي نظریاتو څخه یې د نوو ادبي اثارو په پنځونه کې الهام اخیست.

البته، بشرپالنه او کلاسیزم یو شی نه دي. بشرپالنه یو پراخ فکري او فرهنګي تحریک و، خو کلاسیزم یو ځانګړی هنري او ادبي مکتب دی چې د بشرپالنې تر اغیز سربېره، خپل ځانګړي اصول او قواعد یې هم رامنځته کړل. په پایله کې، زما په اند، بشرپالنې د انسان، عقل او کلاسیک میراث ارزښتونه پیاوړي کړل، او کلاسیزم دغه فکري میراث د نظم، تناسب، اعتدال او هنري بڼکلا په اصولو کې څرګند کړ. د دواړو ګډ ارزښت دا دی چې ادب یې د انسان د پېژندنې، د شخصیت د څېړنې او د فکري او هنري ودې یوه مهمه وسیله وګرځاوی.

مسعود: وایي: لرغون(کلاسیک) ادبي مکتب په څلورو آرونو یا بنسټونو ولاړ دی: د پنځون یا طبیعت لارویان، تېر ته کتونکي، د عقل او اخلاقي بنسټونو لارویان. که د دې څلورو آرونو او اصلونو په اړه په لنډ ډول رڼا واچوئ.

استاد سیماب: د کلاسیزم دغه بنیادي څلور بنسټونه د دې مکتب د فکري او هنري لیدلوري په پېژندنه کې مهم دي:

د طبیعت لاروي: کلاسیک پال په دې باور وو چې ادب باید د انساني فطرت، جذبات او د ژوند واقعیتونه په متوازن او هنري ډول انځور کړي. دلته له فطرت څخه مقصد یوازې غرونه، سیندونه او ونې نه دي، بلکې د انسان ذات او انساني اړیکې هم دي.

تېر ته کتونکي: کلاسیک پالو د لرغوني یونان او روم ادبیات او هنرونه د الهام مهمې سرچینې ګڼلې. دوی هڅه کوله د پخوانیو ادبي اثارو له هنري اصولو، نظم او بڼکلا څخه زده کړه وکړي.

د عقل لاروي: په دې مکتب کې عقل، منطق، وضاحت، اعتدال او د اثر منظم جوړښت ځانګړی ارزښت لري. کلاسیک پالو غوښتل چې ادب له بې ځایه افراط او بې نظمۍ څخه لرې وي.

د اخلاقي بنسټونو لاروي: کلاسیک ادب د انساني چلند، نېکۍ، بدۍ او ټولنیز مسئولیت موضوعاتو ته پام اړوي. په ځانګړي ډول، د مولیر په څېر لیکوالانو د طنز او ډرامې له لارې انساني نیمګړتیاوې او ټولنیزې بدۍ نقد کړې دي.

په پایله کې، د کلاسیزم دغه څلور بنسټونه د طبیعت او انسان پېژندنه، له لرغوني میراث څخه زده کړه، عقلیت او اخلاقي ارزښتونه سره یوځای کوي. البته، دا وېش د کلاسیزم د اصولو د تشریح یوه لنډه لاره ده، نه داسې یو واحد او نړیوال منل شوی فارمولا چې ټول کلاسیک پال وربانديي په بشپړ ډول سره متفق وي.

مسعود: د کلاسیزم ادبي مکتب څلور اړینې قاعدې یا بنسټونه څاري: د موضوع یووالی، د وخت یووالی، کوم چې دا دوه لړني یووالي د ارسطو په اندو واند ولاړ دي، د ځای یووالی، چې پر (۱٤٥٥)کې د ایټالوي کره کتونکي (ماګي) لخوا پرې ور سرباری شو. د خواږه غږ یا اواز یووالی. "هوراس" د روم جمهوریت او د روم امپراتورۍ یو له پېژاندو شاعرانو څخه دا یووالی رامخ ته کړ. که د پېرزوینې له مخې د دې څلورو بنسټونو په اړه رڼا واچوئ.

استاد سیماب: زما په خیال، دغه د وحدتونو اصول په ځانګړي ډول د کلاسیکي ډرامې د جوړښت او هنري نظم په تنظیم کې مهم رول لري.

د موضوع یووالی: د ډرامې ټولې پېښې باید له یوې اساسي موضوع او مرکزي کړکېچ(بحران) سره تړلې وي. فرعي پېښې باید د اصلي موضوع له پرمختګ سره مرسته وکړي او د اثر سالمیت زیانمن نه کړي.

د وخت یووالی: د ډرامې پېښې باید په نسبتاً محدود وخت کې ترسره شي؛ په فرانسوي کلاسیزم کې عموماً هڅه کېده چې د پېښو موده له (۲۴) ساعتونو زیاته نه وي. دا اصل د ارسطو له نظریاتو سره تړل شوی دی، خو ارسطو په خپله د(۲۴)ساعتونو کره قاعده نه ده وه وضع کړې.

د ځای یووالی: د ډرامې پېښې باید په یوه ځای یا محدود جغرافیایي چاپېریال کې ترسره شي، څو د پېښو تسلسل او د نندارې سالمیت وساتل شي. ایټالوي کره کتونکی **لودوویکو کاستلوېترو (Lodovico Castelvetro)** په (۱۵۷۰)ز کال کې د ارسطو د ډرامائي نظریاتو په تفسیر کې د ځای د یووالي د اصل په منظمولو کې مهم رول درلود.

د خواږه ږغ یا اواز یووالی: که له دې اصطلاح څخه مقصد د **هوریس** د ادبي نظریې له مخې د خوږوالي او ګټورتیا یوځای کول وي، نو مطلب دا دی چې ادب باید هم لوستونکي ته هنري خوند ورکړي او هم ورځخه د پوهې، اخلاقو یا ژوند په اړه ګټه ترلاسه شي. هوریس په خپل اثر د شاعرانه هنر (Ars Poetica) کې د همدې اصل ملاتړ کړی دی. خو دا د موضوع، وخت او ځای په څېر د ډرامې یووالی نه دی؛ بلکې د ادبي اثر د موخې او اغېز په اړه یو اصل دی.

په اخر کې، د موضوع، وخت او ځای یووالی په کلاسیکه ډرامه کې د جوړښت او سالمیت اصول دي؛ خو د هوریس د خوند او ګټې نظریه د ادبي اثر هنري او فکري ارزښت څرګندوي. د دغو اصولو موخه د ادب محدودول نه، بلکې د هغه د هنري اغیز او جوړښتي همغږۍ پیاوړتیا وه.

مسعود: ځینو لیکوالو او شاعرانو د ژوند په بېلابېلو دورانو کې بېلابېلې لېوالتیاوې درلودې او په تېره هغه شاعر او لیکوال چې د خپلو نښیرونو(اثارو) د ځانګړتیاوو او ځانګړنو له مخې په دوو جلا مکتبونو کې اووسي او نښیرونه (اثار) یې په بېلابېلو مکتبونو کې د هغو ځانګړتیاوو له مخې چې د ژوند په بېلابېل مهالپېر کې درلودل ډلبندي شي. د دوی په منځ کې، مورِ کولای شو د آلماني شاعر او لیکوال **"ګوېټې"** یادونه وکړو، چې ډیرۍ اثار یې په دوو مکتبونو کې، یو یې په رومانتیسیسم او بل یې ځانګړي لرغونوالي یا کلاسیزم کې شامل دي. تاسو یې دا هڅونه او دک و دلیل څنګه ارزوئ؟

استاد سیماب: د یوه لیکوال یا شاعر له یوه ادبي مکتب څخه بل ته فکري او هنري بدلون یو طبیعي عمل دی. لیکوال د ژوند له تجربو، مطالعې، ټولنیزو شرایطو او فکري بدلونونو سره بدلېږي؛ نو د هغه په اثارو کې هم د لیدلوري او سبک بدلون رامنځته کېدای شي. **ګویټې** د دې بهیر یوه ښه بېلګه ده. د هغه په لومړنیو اثارو کې د احساساتو، انفرادي ازادۍ او بې لګام تخیل څرګندونه لیدل کېږي، چې له رومانټیسیزم سره نږدېوالی لري. خو وروسته، په ځانګړي ډول د ایټالیا له سفر او د لرغوني یونان او روم له هنر سره د بلدتیا وروسته، د نظم، تناسب، اعتدال او کلاسیکي ښکلا ارزښتونه د هغه په اثارو کې پیاوړي شول. د هغه مشهور اثر فاوست (Faust) د ګویټې د اوږدې فکري او هنري ودې څرګندونه کوي؛ په دې

اثر کې د انسان د غوښتنو، پوهې، ازادۍ او اخلاقي مسئوليت په اړه ژورې پوښتنې مطرح شوې دي. د هغه نور اثرونه، لکه ؛ د ځوان ورتر کړاوونه؛ (The Sorrows of Young Werther)، د احساساتو او انفرادي تجربو له پلوه له رومانټيسيزم سره نږدې تړاو لري. زما په خيال، دا بدلون د ليکوال د بې ثباتۍ نخښه نه ده، بلکې د هغه د فکري پراختيا او هنري تجربې څرګندونه ده. همدارنګه، يو ليکوال اړ نه دی چې د يوه مکتب ټول اصول په بشپړ ډول ومني؛ هغه کولای شي له بېلابېلو مکتبونو څخه الهام واخلي او خپل ځانګړی سبک رامنځته کړي. په پايله کې، د ګويټې بېلګه مورږ ته ښيي چې ادبي مکتبونه د ليکوالانو لپاره نه ماتېدونکي چوکاټونه نه دي. د يوه ستر ليکوال ارزښت يوازې په دې کې نه دی چې د کوم مکتب پيروي کوي، بلکې په دې کې هم دی چې څنګه له بېلابېلو فکري او هنري تجربو څخه په ګټې اخيستنې خپل ادبي هويت او نړيوال ارزښت رامنځته کوي.

مسعود: د کلاسيسيسم د مکتب د خورا نوموتو او پېژندل شويو ليکوالو، مخکښانو او هنرمندانو په منځ کې، چا وشوای کولای چې د يونان او روم د لرغونو هنرونو له اغېزمنتيا د ښکلا پېژندلو اصولو او ارزښتونو ته د راستنيدو سره سم دا مکتب په يو لوی خوځښت بدل کړي؟

استاد سيماب: زما په فکر، د کلاسيزم په پياوړتيا او پراختيا کې د رنسانس د بشرپالو مفکرانو او وروسته د فرانس د اوولسمې پېړۍ د ليکوالو او کره کتونکو رول بنسټيز و. دوی د لرغوني يونان او روم له ادبي او هنري ميراث څخه الهام واخيست او د عقل، نظم، تناسب، اعتدال او هنري ښکلا اصول يې پياوړي کړل. په دې بهير کې څو نومونه ځانګړی اهميت لري:

فرانسوا دو مالرب: د فرانسوي شاعرې د ژبې او بیان په منظمولو کې یې مهم رول درلود.

پیر کورني: د کلاسیکې ډرامې له مخکښو لیکوالو څخه و.

ژان راسین: د انساني عواطفو او اخلاقي کشمکشونو په انځورولو کې یې کلاسیک اصول وکارول.

مولیر: د کامیډۍ له لارې یې انساني نیمګړتیاوې او ټولنیز عیبونه نقد کړل.

نیکولا بوالو: د خپل اثر د شاعرانه هنر (L'Art poétique) له لارې یې د کلاسیزم ادبي اصول په منظم ډول تشریح او ترویج کړل.

په پایله کې، کلاسیزم د یوه شخص په لاس نه، بلکې د ګڼو لیکوالو، هنرمندانو او نظریه پردازانو د هڅو په پایله کې په یوه اغېزناک ادبي مکتب بدل شو. په ځانګړې ډول، بوالو د دې مکتب د اصولو په تدوین او تشریح کې مهم رول درلود، او کورني، راسین او مولیر دغه اصول په خپلو ډراماتیکو اثارو کې عملي کړل.

مسعود: ستاسو په اند ولې باید نوماند لرغون (کلاسیک) نښیرونه(اثار) ډېر ولوستل شي او خپلو نښیرونو (اثارو) او پنځونو کې یې وکاروو.

استاد سیماب: د کلاسیکو ادبي اثارو لوستل د لیکوال او شاعر د فکري، ژبني او هنري ودې لپاره ډېر ارزښت لري. دغه اثار د بشري تجربو، ژور فکر، ښکلي اظهار او فني نوښتونو لویه زېرمه ده. لومړی، د کلاسیکو اثارو مطالعه زمور ادبي ذوق پیاوړی کوي، ژبه مو غني کوي او د خیال، تصویر، روایت او کرکټر جوړونې په برخه کې راسره مرسته کوي. دویم، د دغو اثارو له لارې د نورو ملتونو له تاریخ، فرهنګ او فکري تجربو سره اشنا کېږو. خو زما په اند، یوازې لوستل بسنه نه کوي؛

مهمه دا ده چې له دغو اثارو څخه په خپل تخليق کې په هوښياری ګټه واخلو. يعنې د هغوی له هنري تجربو او فکري ژورتيا څخه الهام واخلو، خو د هغوی تقليد ونه کړو. زمونږ اثار بايد زمونږ د خپلې ټولنې، ژبې، فرهنګ او زمانې اړتياوې هم څرګندې کړي. په لنډه توګه، د کلاسيکو اثارو مطالعه د ادبي پوهې او تخليقي نوښت بنسټ پياوړی کوي؛ خو د هغوی ښېنيني ارزښت هغه وخت څرګندېږي چې مونږ يې له ميراث څخه په ګټې اخيستنې خپلواک، نوښتګر او د خپل عصر له واقعيتونو سره تړلي اثار وپنځوو.

انسان د ازادۍ او مسئولیت ترمنځ اړیکه هم روښانوي. انسان د خپل ژوند په اړه د پرېکړې کولو حق لري، خو دغه ازادي له اخلاقي او ټولنیز مسئولیت څخه جلا نه ده. په همدې ډول، د دې ادب ډېرى آثار د ټولنیز عدالت، فردي کرامت، کلتوري هویت او د واک د محدودولو په اړه د بحث زمینه برابروي. په پای کې، زه مادرن کلاسیک ادب د انسان د فکري ودې، هنري تجربې او ټولنیز شعور یوه مهمه برخه ګڼم. د دې ادب ارزښت یوازې په نوې ژبه، نوې بڼه یا فلسفي اصطلاحاتو کې نه دی، بلکې په دې کې دی چې د انسان د ژوند بنسټیزې مسئلې په ژوره، انتقادي او هنري بڼه وړاندې کوي. کلاسیک اثر هغه نه دی چې یوازې پخوانی وي؛ بلکې هغه اثر دی چې د وخت له تېرېدو سره سره د انسان لپاره د فکر، پوښتنې او ځان پېژندنې ارزښت وساتي. له همدې امله، د مدرن کلاسیک ادب مطالعه د ادبي ذوق د روزنې ترڅنګ زموږ تاریخي شعور، انتقادي فکر او د انساني تجربو د درک وړتیا هم پیاوړې کوي.

مسعود: "فیودور داستایوفسکی" چې د مدرن کلاسیک ادبیاتو له لیکوالو څخه دی، کلاسیک رومان (جنایت او مکافات) یې لیکلی، چې یو له غورو نښیرونو (اثارو) څخه ګڼل کېږي. د نوموړي له دریو لویو نښیرونو(اثارو) څخه یوازې همدغه اثر ستاینوم "لقب" ګټلی. مهرباني به مو وي که د هغه د هنري - فرهنګي شخصیت او د کیسې د منځپانګې او موضوع په اړه لنډې څرګندونې وکړئ.

استاد سیماب: فیودور داستایوفسکي (Fyodor Dostoevsky) د نولسمې پېړۍ د روسیې له سترو ناول لیکوالو او د نړیوال مادرن کلاسیک ادب له اغېزناکو څېرو څخه دی. نوموړي د انسان د نفسیات، اخلاقي وجدان، ګناه، پښېمانۍ، ایمان، ازادۍ او ټولنیزو ستونزو په اړه داسې ژور ادبي آثار پنځولي چې تر نن ورځې د

ادبیاتو، فلسفې او اروا‌پوهنې په بحثونو کې مهم ځای لري. د هغه په اثارو کې انسان یوازې د پېښو برخه نه ده، بلکې د خپل وجدان، فکر، غوښتنو، وېرې او اخلاقي مسئولیتونو په وړاندې ولاړ یو پېچلی موجود دی. داستایوفسکي په ځوانۍ کې له سیاسي او ټولنیزو بحثونو سره تړاو درلود، بندي شو او د سایبریا د بند او جبري خدمت سختې تجربې یې تېرې کړې. دغو تجربو د هغه پر فکري او هنري لید ژور اغېز وکړ. د ده په اثارو کې د بېوزلۍ، ټولنیزې بې‌عدالتۍ، انساني کړاو، ایمان او اخلاقي انتخاب موضوعات په څرګنده توګه لیدل کېږي. جنایت او مکافات؛ د داستایوفسکي له سترو او اغېزناکو اثارو څخه دی. د ناول مرکزي موضوع دا ده چې ایا انسان کولای شي د یوې لوړې موخې یا شخصي نظریې په پلمه د بل انسان د ژوند اخیستل توجیه کړي؟ او که یو انسان جرم وکړي، ایا له قانوني سزا پرته هم د خپل وجدان له عذاب څخه خلاصېدای شي؟ د یادونې وړ ده چې د داستایوفسکي دریځ مشهور ناولونه ؛جنایت او مکافات، احمق او د وروڼو کارامازوف دي؛ خو دا ادعا چې یوازې جنایت او مکافات د ستاینوم یا ځانګړي لقب خاوند شوی، د دقیقې سرچینې له مخې تایید ته اړتیا لري. د هغه دغه دریځ واړه آثار د نړیوال کلاسیک ادب مهمې بېلګې ګڼل کېږي.

د کیسې منځپانګه: د ناول مرکزي کرکټر رودیون رومانوویچ راسکولنیکوف (Raskolnikov) د روسیې په سنټ پیټرزبورګ ښار کې یو بېوزلی، پخوانی محصل دی. هغه د ټولنیزې بې‌عدالتۍ، فقر او خپل فکري غرور تر اغېز لاندې داسې نظریه جوړوي چې ګواکې ځینې استثنایي انسانان د لوړو موخو د ترلاسه کولو لپاره له عادي اخلاقي قوانینو څخه د سرغړونې حق لري. راسکولنیکوف د یوې زړې پورورکوونکې ښځې د وژلو پربکړه کوي، ځکه فکر کوي چې د هغې شتمني به د

نورو خلکو د ژوند د ښه کولو لپاره وکارول شي. خو له جنایت وروسته د هغه ژوند د وېرې، شک، نفسیاتي کړاو او د وجدان د عذاب په ډګر بدلېږي. هغه هڅه کوي خپل جرم په عقلي دلایلو توجیه کړي، خو د هغه نفسیاتي حالت ورځ تر بلې خرابېږي. په دې بهیر کې سونیا مارملادوا، یوه بېوزلې خو مهربانه او د اخلاقي باورونو څښتنه ځوانه ښځه، د هغه په ژوند کې مهم رول لوبوي. سونیا د مینې، شفقت، قربانۍ او اخلاقي بیدارۍ استازیتوب کوي. د ناول په پای کې راسکولنیکوف د خپل جرم مسئولیت مني او په سایبریا کې د بند سزا ته استول کېږي. خو د کیسې اصلي پایله یوازې قانوني سزا نه ده؛ بلکې د هغه د وجدان، اخلاقي بدلون او د بیا انساني کېدو د امکان مسئله هم ده. زما په فکر، جنایت او مکافات یوازې د یوه قتل او د هغه د سزا کیسه نه ده؛ بلکې د انسان د وجدان، اخلاقي مسئولیت، فکري غرور، ټولنیزې بې‌عدالتۍ او د بدلون د امکان ژوره فلسفي څېړنه ده. د داستایوفسکي ستر ادبي کمال په دې کې دی چې لوستونکی د جرم د ظاهري پېښې تر شا د انسان د نفسیاتو او اخلاقو له پېچلو مسئلو سره مخامخ کوي. د هغه اساسي پیغام دا دی چې انسان باید د خپلو کړنو مسئولیت ومني او د هېڅ نظریې یا موخې په پلمه د بل انسان کرامت او ژوند بې‌ارزښته ونه ګڼي.

مسعود: «**انتون پاولوویچ چیخوف**» د روسې یو له خورا نوموتو کلاسیکو لیکوالو څخه دی. هغه په روسیه کې د کلاسیکیزم او لنډو کیسو" رمان" یو له غوره لیکوالو څخه ګڼل کېږي چې د ډرام لیکنې تګلورۍ یې د ادبیاتو په نړۍ کې ګټورې اغیزې لرلې. مهرباني وکړئ د هغه په ادبي او فرهنګي شخصیت او اغیزناکو نښیرونو(اثارو) لنډه رڼا واچوئ.

استاد سیماب: چیخوف په ځانګړې توګه د لنډې کیسې او عصري ډرامې په پرمختګ کې مهم مقام لري. د هغه ادبي هنر په دې کې و چې د عادي انسانانو د ورځني ژوند له ساده پېښو څخه يې ژورې انساني، فلسفي او ټولنيزې معناوې راايستلې. هغه د ژوند پېچلتياوې د اوږدو ويناوو او مستقيمو اخلاقي نصيحتونو پر ځای، د کرکټرونو د چلند، چوپتيا، خبرو، احساساتو او ورځنيو پېښو له لارې څرګندولې.

د چيخوف ادبي او فرهنګي شخصيت : چيخوف د مسلک له مخې طبيب و، خو د ادبي ليکنو له لارې يې نړيوال شهرت ترلاسه کړ. د طبابت تجربې ورسره مرسته وکړه چې د انسان دردونه، نفسياتي حالتونه او ټولنيزې ستونزې له نزدې وڅاري.د عامو خلکو ژوند، بېوزلي، ناهيلۍ او ټولنيزې اړيکې يې په طبيعي او قانع کوونکې بڼه انځورولې. د کرکټرونو پټ احساسات، داخلي تضادونه او ناليدلي دردونه يې څرګندول. د طنز له لارې يې د ټولنيز ریاکارۍ، اداري فساد، ناپوهۍ او انساني کمزوريو نقد کاوی. په لږو کلمو او ساده پېښو کې يې ژورې فلسفي او انساني معناوې ځايولې. لوستونکي ته يې د تيارې پايلې د وړاندې کولو پر ځای د فکر او قضاوت بلنه ورکوله.د هغه په ډرامو کې کله ناکله ظاهراً لويه پېښه نه رامنځته کېږي، خو د کرکټرونو په احساساتو او اړيکو کې ژور بدلونونه روان وي. دې سبک د شلمې پېړۍ پر ډرامه ليکونکو، لوبغاړو او ډايرکټرانو اغېز کړی دی.

چيخوف د روسي ریاليزم او نړيوال ماډرن کلاسيک ادب له مهمو استازو څخه دی. د هغه ادبي عظمت په دې کې دی چې د عادي انسانانو له ساده ژوند څخه يې ژورې نفسياتي، فلسفي او ټولنيزې معناوې راايستلې دي. هغه د لنډې کيسې د هنري جوړښت په نوښت او د ډرامې د داخلي، نفسياتي او غيرمستقيم بيان په

پیاوړتیا کې مهم رول لوبولی دی. یوه یادونه: چیخوف ته د کلاسیکیزم پر ځای د روسي واقعیت پالنې او عصري لنډې کیسې او ډرامې د مخکښ لیکوال په توګه اشاره کول دقیق دي؛ ځکه د هغه هنري تګلوری له دودیز کلاسیزم سره توپیر لري.

مسعود: د اتلسمې پېړۍ په منځ کې ستر او نامتو پنځونکي هنرمندان راڅرګند شول او کلاسیکیزم په ټول بشري ځواک منځ ته راغی، که د دې دورې د لیکوالو او نښیرونو(اثارو) په اړه یې لنډې څرګندونې وکړئ.

استاد سیماب: اتلسمه پېړۍ د یورپ د ادبیاتو، فلسفې او هنرونو په تاریخ کې یو مهم پړاو دی. په دې دوره کې کلاسیزم او نوکلاسیزم د عقل، نظم، تناسب او اخلاقي ارزښتونو پر بنسټ پراختیا وموندە. همدارنګه، د روښانتیا فکري خوځښت د انسان د ازادۍ، علم، عدالت او انتقادي تفکر لپاره نوې لارې پرانیستې. باید یادونه وشي چې کلاسیزم د اتلسمې پېړۍ په منځ کې نه، بلکې تر دې وړاندې یې تاریخي ریښې لرلې؛ خو په اتلسمه پېړۍ کې یې له نوو فلسفي او ټولنیزو افکارو سره پراختیا وموندە. د دې دورې نامتو لیکوالان او آثار دا دي:

ولټیر (Voltaire): فرانسوی فیلسوف او لیکوال و. په کاندید کې یې د ټولنیزو بدیو، تعصب او بې‌ځایه خوشبینۍ طنزي نقد کړی دی.

ژان ژاک روسو (Jean-Jacques Rousseau): د انسان د ازادۍ، ټولنیز عدالت او روزنې په اړه یې مهم نظریات وړاندې کړل. ټولنیز تړون او امیل یې مشهور آثار دي.

الکزاندر پوپ (Alexander Pope): انګلیسي شاعر و چې په شعرونو کې یې نظم، عقل او طنز ته ځانګړې پاملرنه کړې. د انسان په اړه مقاله یې له مهمو اثارو څخه ده.

جوناتان سویفټ (Jonathan Swift): د طنز له لارې یې سیاسي او ټولنیزې نیمګړتیاوې نقد کړې. د ګالیور سفرونه یې مشهور اثر دی.

ډانیل ډیفو (Daniel Defoe): د عصري انګلیسي ناول له مخکښو لیکوالانو څخه و. رابینسن کروزو یې د بقا، کار او خپلواکۍ په اړه مشهور ناول دی.

هنري فیلډینګ (Henry Fielding): په ټام جونز کې یې د انساني شخصیت، اخلاقو او ټولنیزو اړیکو انځور وړاندې کړی دی.

ګویټې (Johann Wolfgang von Goethe): د جرمني ستر شاعر او لیکوال و. د ځوان ورتر کړاوونه او فاوست یې له مشهورو اثارو څخه دي.

فریدریش شیلر (Friedrich Schiller): د ازادۍ، عدالت او انساني کرامت موضوعات یې په خپلو ډرامو کې څېړلي دي. غله او ویلهلم ټېل یې مشهور آثار دي.

د دې دورې ادبي ځانګړتیاوې، د اتلسمې پېړۍ په ادبیاتو کې عقل، منطقي استدلال، ټولنیز نقد، اخلاقي ارزونه او د انسان د حقونو مسئلې ځانګړی اهمیت درلود. لیکوالانو د طنز، شعر، ناول، ډرامې او فلسفي لیکنو له لارې د ټولنې نیمګړتیاوې رابرسېره کړې او د انسان د فکري ازادۍ ملاتړ یې وکړ.

البته، د دې دورې ټول لیکوالان د یوه ادبي مکتب پیروان نه وو؛ ځینو د نوکلاسیزم اصول تعقیبول او ځینو نورو د احساساتو، فردي ازادۍ او رومانټیسزم د پراختیا لپاره

زمینه برابروله. د اتلسمې پېړۍ ادبي او فکري تحول د کلاسیکو هنري اصولو او د روښانتیا د عقلي افکارو ګډه پایله وه. د دې دورې لیکوالانو ادب یوازې د ښکلا او تفریح وسیله ونه ګڼله، بلکې د ټولنیز اصلاح، فلسفي تفکر، انساني ازادۍ او انتقادي شعور د پیاوړتیا لپاره یې هم وکاراوه. د همدې هڅو په پایله کې د عصري ناول، معاصرې ډرامې او نوې ادبي کره کتنې د پرمختګ لپاره مهم بنسټونه برابر شول.

مسعود: ښه به وي که را ته وویاست په شعر و شاعرۍ، کیسو، داستانونو رومان او ناولونو کې د کلاسیزم مکتب ارزښت او ځانګړې اغېز څه ډول ارزوئ؟

استاد سیماب: د کلاسیزم ارزښت یوازې په دې کې نه دی چې ادبي بڼو ته نظم او اصول ورکوي، بلکې په دې کې هم دی چې د هنر، اخلاقو، انساني شخصیت او ټولنیزو ارزښتونو ترمنځ اړیکه پیاوړې کوي. کلاسیزم په شاعرۍ کې د ژبې ښکلا، فکري نظم، موزون جوړښت، تناسب او د معنا روښانتیا ته اهمیت ورکوي. د دې مکتب شاعران هڅه کوي چې احساسات د عقل او هنري انضباط په رڼا کې بیان کړي.د دې مکتب مهمې ځانګړتیاوې عبارت دي له، د ژبې فصاحت او بلاغت. د فکر او احساس ترمنځ توازن. د اخلاقي او انساني موضوعاتو بیان. د هنري جوړښت او ادبي اصولو مراعات. د ښلګې په توګه، فرانسوی شاعر ژان راسین او انګلیسي شاعر الکزانډر پوپ د کلاسیکو او نوکلاسیکو ادبي اصولو له مهمو استازو څخه دي.

په کیسو او لنډو داستانونو کې کلاسیکي تمایل د پېښو منطقي تسلسل، د کرکټرونو روښانه انځور، د موضوع یووالی او د اخلاقي یا ټولنیز پیغام څرګندول مهم ګڼي. د دې لیدلوري له مخې، یوه ښه کیسه باید یوازې د پېښو مجموعه نه وي، بلکې

جوړښت، هدف او هنري هم آهنګي ولري. د کرکټرونو کړنې باید له هغوی له شخصیتونو او د کیسې له شرایطو سره مناسبت ولري. البته، د کیسې هر منظم او اخلاقي اثر کلاسیکي نه بلل کېږي؛ د کلاسیزم ځانګړتیا د هغو هنري اصولو په پیروی کې ده چې د دې مکتب له تاریخي او فکري دود سره تړاو لري. ناول د انسان د انفرادي او ټولنیز ژوند د پراخ انځورولو وړتیا لري. کلاسیکي اصول په دې ژانر کې د داستاني جوړښت، د پېښو د هم آهنګۍ، د کرکټرونو د منطق او د موضوع د انسجام په برخه کې اغېز لري. د ناول په کلاسیکي تمایل لرونکو اثارو کې معمولاً لاندې ټکي مهم وي. د پېښو ترمنځ منطقي اړیکه.د کرکټرونو د شخصیت او کړنو همغږي. د ټولنیزو او اخلاقي ستونزو ارزونه. د هنري جوړښت او معنا ترمنځ توازن. خو باید یادونه وشي چې د عصري ناول ټول ستر لیکوالان کلاسیستان نه دي. د بېلګې په توګه، بالزاک او ټالستای د ریالیزم له مهمو استازو څخه دي، که څه هم د دوی په اثارو کې د جوړښت، انساني شخصیت او ټولنیز ژوند د انځورولو هغه ځانګړتیاوې لیدل کېږي چې د کلاسیکي ادبي کره کتنې له ځینو معیارونو سره د پرتله کولو وړ دي. د کلاسیزم اغېز یوازې په شعر، کیسه او ناول پورې محدود نه دی. دغه مکتب په ډرامه، ادبي نقد او نورو هنري برخو کې هم مهم رول لري.

مسعود: د کلاسیکانو هنر، فرهنګ او ادبیات د دې ښوونځیو د تکړه لیکوالو او پنځونکو لخوا په همېشنۍ ښکلا او ګټورو او تل پاتو ارزښتونو لیکل شوي او انځور شوي، چې د نورو لیکوالو په کتابونو کې یې بېلګې نه موندل کېږي. تاسو په دې اړه څه اند لرئ؟

استاد سیماب: زما په اند، د کلاسیکانو د هنر، فرهنګ او ادبیاتو عظمت په دې کې دی چې د انسان د ژوند او ټولنې په اړه یې داسې ژورې تجربې او مفکورې په

هنري بڼه ثبت کړې دي چې د زمانې په تېرېدو سره يې ارزښت نه دی له منځه تللی. د هغوی آثار د بشري تمدن د حافظې، فکري ودې او هنري تخليق مهمې سرچينې دي. خو د کلاسيکو اثارو درناوی بايد د نورو ادبي مکتبونو او معاصرو ليکوالو د ارزښت د کمولو په بيه نه وي. د ادب ريښتينی عظمت په دې کې دی چې کلاسيک ميراث، معاصر نوښت او د بېلابېلو کلتورونو تجربې د انسان د پوهې او احساس نړۍ لا پراخه کړي. په لنډه توګه، کلاسيک آثار د ادبي تاريخ لوړې څوکې دي؛ خو د هنر او ادبياتو اسمان يوازې په همدغو څوکو نه محدودېږي. هر نوی نسل کولای شي د خپل تخليقي ځواک له لارې نوې څوکې هم رامنځته کړي.

مسعود: تاسو نيو کلاسيکيزم څنګه راپېژنئ؟ د نوي کلاسيسيسم د آر او بنسټ او د ليکوالو د اندونو او ليدتوګو په اړه څنګه اندئ؟

استاد سيماب : نيوکلاسيزم (Neoclassicism) يا نوی کلاسيزم د ادبياتو، هنرونو او ښکلاپوهنې يو مهم فکري او هنري بهير دی چې د لرغوني يونان او روم له ادبي او هنري ميراث څخه يې الهام اخيستی دی. دغه بهير په ځانګړي ډول د اوولسمې پېړۍ په فرانسوي ادبياتو او د اتلسمې پېړۍ په اروپايي هنرونو کې پراخ شو. د دې مکتب بنسټ پر عقل، منطق، نظم، تناسب، اعتدال او د هنري اصولو پر رعايت ولاړ دی. نوکلاسيکيزم يوازې د پخوانيو ادبي او هنري اثارو تقليد نه دی، بلکې د هغوی د اصولو د بيا راژوندي کولو او د خپل عصر له فکري او ټولنيزو اړتياوو سره د يوځای کولو هڅه هم ده. د نوکلاسيزم ريښې د يورپ د رنسانس په پېر کې د لرغوني يونان او روم د ادبياتو او هنرونو له بيا مطالعې سره تړاو لري. وروسته، په اوولسمه پېړۍ کې د فرانس په ادبياتو کې د نظم، عقل او هنري

قواعدو پر اهمیت ټینګار زیات شو. په اتلسمه پیړۍ کې د لرغونو هنري اثارو د مطالعې، لرغون پېژندنې او د روښانتیا د فکري خوځښت له پراختیا سره نوکلاسیکیزم لا پیاوړی شو. هنرمندانو او لیکوالو هڅه کوله چې د لرغونو تمدنونو له هنري میراث څخه د ښکلا، اخلاقو او انساني شخصیت په اړه زده کړه وکړي.

د دې مکتب مهم اصول په لاندې ډول دي:

عقل او منطق: ادبي او هنري اثر باید فکري انسجام او منطقي جوړښت ولري.

- نظم او تناسب: د اثر د برخو ترمنځ همغږي او توازن مهم دي.

- اعتدال: د احساساتو او بیان ترمنځ باید مناسب توازن موجود وي.

- اخلاقي ارزښتونه: ادب باید د انساني چلند او ټولنیزو ستونزو په اړه د فکر زمینه برابره کړي.

- د لرغوني ادب اغېز: د یونان او روم له ادبي او هنري میراث څخه الهام اخیستل.

- د ژبې روښانتیا: په ځانګړي ډول په نوکلاسیکو ادبي اثارو کې د بیان د وضاحت او د سبک د کنټرول اهمیت.

البته، د دې اصولو بڼه په ټولو هېوادونو او ادبي ژانرونو کې یو شان نه وه.

د نیوکلاسیزم نامتو لیکوالان کې یې **نیکولا بوالو (Nicolas Boileau، ۱۶۳۶–۱۷۱۱) ژان راسین (Jean Racine، ۱۶۳۹–۱۶۹۹) مولیر (Molière، ۱۶۲۲–۱۶۷۳) الکزاندر پوپ (Alexander Pope، ۱۶۸۸–۱۷۴۴) یوهان یوآخیم وینکلمان (Johann Joachim Winckelmann، ۱۷۱۷–۱۷۶۸)**

نیوکلاسیزم پر عقل، نظم، اعتدال او هنري قواعدو ټینګار کوي؛ په مقابل کې، رومانټیسزم د احساساتو، تخیل، طبیعت او فردي ازادۍ ارزښت ته زیات اهمیت ورکوي. خو دا توپیر مطلق نه دی. نوکلاسیک لیکوالان هم ژور احساسات انځوروي، او رومانتیک لیکوالان هم هنري جوړښت او نظم ته اړتیا لري. توپیر تر ډېره د دوی په لومړیتوبونو او د هنر په اړه په لیدلوري کې دی.

مسعود: تاسو د کلاسیکیزم پېر د نوي کلاسیکیزم دوران سره څه ډول پرتله کوئ په داسې حال کې چې دوی نه په بنسټیز ډول، بلکې یوازې په روښنتیا کې توپیر لري؟ تاسو د نیوکلاسیک او په اروپا کې د پېژاندو لیکوالو او پنځونکو د نښیرونو (اثارو) تر ټولو مهمو ځانګړنو په اړه څه اند لرئ؟

استاد سیماب: ستاسو پوښتنه د ادبیاتو د تاریخ له مهمو او د بحث وړ موضوعاتو څخه ده. زما په اند، کلاسیزم او نیوکلاسیزم په بنسټیزو هنري اصولو کې ډېر نږدې دي؛ دواړه د عقل، نظم، تناسب، اعتدال او د لرغوني یونان او روم د ادبي او هنري میراث ارزښت ته اهمیت ورکوي. خو د دوی ترمنځ توپیر یوازې د بیان په روښانتیا کې نه دی، بلکې د تاریخي شرایطو، فکري موخو او د کلاسیک میراث د بیاکارونې په طریقه کې هم لیدل کېږي.

کلاسیزم او نیوکلاسیزم څه توپیر لري؟ کلاسییزم (Classicism) د ادبي او هنري اصولو هغه پراخ دود دی چې له لرغوني یونان او روم څخه یې سرچینه اخیستې او وروسته یې په بېلابېلو تاریخي پړاوونو کې پراختیا موندلې ده. نیوکلاسیزم (Neoclassicism) بیا د کلاسیکو اصولو د بیا راژوندي کولو او له نویو تاریخي او فکري شرایطو سره د هغو د تطبیق بهیر دی. په یورپ کې یې په ځانګړي ډول د اوولسمې پېړۍ په فرانسوي ادبیاتو او د اتلسمې پېړۍ په ادبیاتو

او هنرونو کې څرګند پرمختګ وکړ. کلاسیزم او نیوکلاسیزم د اروپا د ادبیاتو او هنرونو له مهمو فکري او هنري بهیرونو څخه دي. کلاسیزم د لرغوني یونان او روم له ادبي او هنري میراث څخه سرچینه اخلي، په داسې حال کې چې نئوکلاسیزم د همدې میراث د بیا راژوندي کولو او له نوو تاریخي او فکري شرایطو سره د تطبیق هڅه ده. که څه هم دواړه مکتبونه د عقل، منطق، نظم، تناسب، اعتدال او هنري انسجام پر ارزښت ټینګار کوي، خو د دوی ترمنځ توپیر د تاریخي چاپېریال، فکري موخو او د کلاسیکو اصولو د کارونې په طریقه کې څرګندېږي. نوکلاسیزم په ځانګړي ډول د اوولسمې پېړۍ په فرانسوي ادبیاتو او د اتلسمې پېړۍ په اروپایي هنرونو کې پراختیا وموندە. د دې مکتب پلویانو هڅه کوله چې ادب او هنر د ښکلا، عقل، اخلاقي ارزښتونو او ټولنیز نقد وسیله وګرځوي. د دوی په اند، یو اغېزناک ادبي اثر باید منظم جوړښت، روښانه بیان، منطقي تسلسل او ژور انساني مفهوم ولري. د دې بهیر له نامتو استازو څخه نیکولا بوالو، ژان راسین، مولیر، الکساندر پوپ او یوهان یوآخیم وینکلمان یادولای شو. بوالو د شعر په هنر کې د ادبي اصولو او نظم پر ارزښت ټینګار کړی؛ راسین په فېدر کې د انساني غوښتنو او اخلاقي مسئولیت ترمنځ ټکر انځور کړی؛ مولیر په تارتوف کې مذهبي ریاکاري او ټولنیز تصنع نقد کړي؛ او پوپ په د انسان په اړه مقاله کې د انسان، عقل او طبیعت په اړه فلسفي بحث کړی دی. وینکلمان بیا د لرغوني یونان د هنر د ښکلا او تناسب له مهمو نظریه پردازانو څخه و.

مسعود: د کلاسیسیسم یو له خورا اړینو بنسټونو او اصولو څخه د طبیعت پېښې(تقلید) دی. د نورو ښونځیو(مکتبونو) بنسټ ایښودونکي د پنځ''طبیعت'' پېښو او تقلید پوښتونکي او مدعان دي. د بېلګې په توګه، بوالو پر خپل کتاب د شعر په

درپیم څپرکي کې دغه آر ته اشاره کړې او وایي: " طبیعت د یوې شیبې لپاره هم مه هېروئ"، البته چې د دې فن وړاندیز په مهالویش کې شوی، خو کلاسیکیزم دا په یو ډول وړاندې کوي. (ویکتور هوګو) چې د رومانتیزم د مکتب مخکښ دی، سره له دې چې د کلاسیکیزم د مکتب مخالف دی، وایي: " خو طبیعت!" طبیعت او حقیقت "، (زولا) کله چې په ادبیاتو کې د طبیعت بنسټ کیښود، څرګنده یې کړه چې طبیعت یې په ادبیاتو کې د نوي شی په توګه پنځولی دی. ان د ادبي صنایعو شاعران ادعا کوي چې نښیرونه(اثار) یې د طبیعت په څېر او ورسره همډوله دي او دا د طبیعت انځورونه دي. مګر د کلاسیکانو د طبیعت پېښې یا تقلید د نورو ادبي مکتبونو له تګلورو او ډولونو څخه توپیر لري او د خبرو اترو وړ دی. تاسو دا توپیر او بنډار څنګه ارزوئ، یانې د کلاسیکانو پېښې یا تقلید له طبیعت څخه ؟

استاد سیماب: ستاسو پوښتنه د ادبیاتو او ښکلا پوهنې له بنسټیزو موضوعاتو څخه ده؛ ځکه د طبیعت تقلید یا محاکات (Mimesis) د کلاسیکو ادبي نظریو له مهمو اصولو څخه ګڼل کېږي. خو د دې اصل د سم درک لپاره باید دا روښانه کړو چې د طبیعت تقلید یوازې د طبیعي منظرو انځورول نه دي، بلکې د انسان، ټولنې، احساساتو، کړنو او د ژوند د واقعیتونو هنري بیاپنځونه هم رانغاړي. د کلاسیزم او نورو ادبي مکتبونو ترمنځ اصلي توپیر دا نه دی چې یو مکتب له طبیعت څخه تقلید کوي او بل یې نه کوي؛ بلکې توپیر په دې کې دی چې هر مکتب طبیعت څنګه پېژني، کوم اړخونه یې غوره کوي او په کوم هنري سبک یې وړاندې کوي. په کلاسیزم کې د طبیعت تقلید د ژوند او واقعیتونو ړوند او لفظي نقل نه دی، بلکې د طبیعت د اصولو، انساني کړنو او د ژوند د عمومي حقیقتونو پېژندنه او هنري انځورول دي. کلاسیک لیکوال هڅه کوي چې د واقعیتونو له منځه مهم، معقول

او د انسانانو لپاره د عمومي ارزښت لرونکي اړخونه غوره کړي او په منظم، متناسب او ښکلي هنري جوړښت کې يې وړاندې کړي. د لرغوني يونان فلسفي ارسطو په خپل اثر بوطيقا (Poetics) کې محاکات د شاعرۍ او ډرامې له بنسټيزو اصولو څخه ګڼي. د هغه په اند، شاعر يوازې هغه څه نه بيانوي چې پېښ شوي دي، بلکې هغه څه هم انځوروي چې د انساني طبيعت او پېښو له منطق سره سم پېښېدلای شي. وروسته نيکولا بوالو په خپل اثر د شعر هنر (L'Art poétique) کې د طبيعت د مطالعې او تقليد پر اهميت ټينګار وکړ. د بوالو لپاره طبيعت د هنري الهام سرچينه وه، خو له طبيعت څخه تقليد بايد د عقل، نظم، اعتدال او هنري ذوق له اصولو سره مل وي. په دې توګه، د کلاسيکانو تقليد د طبيعت له ظاهري بڼې سره د ورته والي تر څنګ، د هغه د داخلي نظم، انساني حقيقتونو او عمومي اصولو د هنري څرګندولو هڅه هم ده. د رومانټيسزم مخکښانو هم د طبيعت پر ارزښت ټينګار کاوه، خو د هغوی ليدلوری له کلاسيکانو سره توپير درلود. کلاسيزم: طبيعت د نظم، تناسب، عقل او عمومي انساني حقيقتونو په رڼا کې انځوروي.رومانټيسزم: طبيعت د انفرادي احساساتو، تخيل، ازادۍ، يوازيتوب او کله ناکله د عظمت او اسرار د څرګندولو وسيله ګڼي. د کلاسيک شاعر موخه د طبيعت له بېلابېلو اړخونو څخه د يوه منظم او متوازن هنري اثر رامنځته کول دي . د رومانټيک شاعر موخه د طبيعت او انساني روح ترمنځ اړيکه څرګندول او د انفرادي تجربې او عاطفې ژورتيا بيانول. ويکتور هوګو، چې د فرانسوي رومانټيسزم له مهمو استازو څخه دی، د کلاسيکو ادبي قواعدو له سخت محدوديت سره مخالفت کاوه. د هغه په ليدلوري کې طبيعت يوازې منظمې او ښکلې صحنې نه دي؛ بلکې تضادونه، بدرنګۍ، دردونه، عظمت او د ژوند بېلابېل اړخونه هم پکې شامل دي. نو د هوګو لپاره د

طبیعت او حقیقت منل د دې معنا لري چې هنر باید د ژوند یوازې یوه ټاکلې او مثالي بڼه نه وړاندې کوي، بلکې د انسان د تجربې پراخوالی هم څرګند کړي.

د نولسمې پېړۍ په ادبیاتو کې ریالیزم او نېچرلیزم هم د واقعیت او طبیعت د انځورولو په برخه کې مهم مکتبونه وو، خو د دوی موخې او طریقې له کلاسیزم سره توپیر لري. ریالیزم (Realism): د عامو انسانانو ژوند، ټولنیزې اړیکې، اقتصادي ستونزې او واقعي چاپېریال په نسبتاً رښتینې او بې تکلفه بڼه انځوروي. د بالزاک، فلوبر او ټالستای په اثارو کې د دې بهیر ښه لیدل کېږي.نېچرلیزم (Naturalism): د طبیعت او ټولنیز واقعیت د انځورولو لپاره د علمي مشاهدې، وراثت، چاپېریال او ټولنیزو شرایطو پر اغېزو ټینګار کوي. فرانسوي لیکوال امیل زولا د دې مکتب له مهمو استازو څخه و. هغه هڅه کوله چې د انسان چلند او ژوند د مادي او ټولنیزو عواملو په رڼا کې وڅېړي. په دې اساس، د کلاسیکانو تقلید د طبیعت له نظم او عمومي حقیقتونو سره تړاو لري؛ د ریالیستانو پام د واقعي ژوند او ټولنې انځورولو ته دی؛ او نېچرلیستان د انسان د چلند او برخلیک په تشریح کې د وراثت او چاپېریال رول ته ځانګړی اهمیت ورکوي.

مسعود: د کلاسیکې موسیقۍ په اړه څه لیدلوری لرئ؟ د کلاسیک موسیقۍ ترټولو اوچت او نامتو بنسټ ایښودونکي څوک ول؟

استاد سیماب: زما په اند، کلاسیکه موسیقي د بشري تمدن له هغو ارزښتناکو هنري میراثونو څخه ده چې د انسان احساسات، عقل، تخیل او ښکلا پوهنه په یوه ځانګړې هنري ژبه کې سره نښلوي. دا موسیقي یوازې د ږغونو او نغمو منظم ترکیب نه دی، بلکې د انسان د روحي تجربو، فکري ژورتیا او فرهنګي تاریخ څرګندونه هم ده. یوه مهمه یادونه دا ده چې کلاسیکه موسیقي یو واحد هنري

مکتب یا د یوه کس له خوا رامنځته شوی هنر نه دی. د نړۍ بېلابېل تمدنونه خپلې کلاسیکې موسیقۍ لري؛ خو کله چې په لوېدیځ کې د کلاسیکې موسیقۍ خبره کېږي، معمولاً د یورپ هغه هنري دود مراد وي چې د منځنیو پېړیو له موسیقۍ څخه یې وده کړې او د رنسانس، باروک، کلاسیکې دورې او رومانټیسزم په پراوونو کې یې ستر پرمختګ کړی دی.

مسعود: سره له دې چې دکلاسیزم ښوونځی تر اوسه هم په ادبي او هنري ډګر کې خپل ځانګړی ځای لري، خو د ادبي تاریخ په بهیر کې د واکمن مکتب په توګه ورو ورو خپل اهمیت له لاسه ورکړ. تاسو د کلاسیزم د ښوونځی د زوال لاملونه، انګېزې او اصلي عوامل څنګه ارزوئ؟

استاد سیماب: کلاسیزم د اروپا د ادبیاتو او هنرونو له مهمو مکتبونو څخه دی چې د عقل، نظم، تناسب، اعتدال او هنري اصولو پر بنسټ یې د ادبي تاریخ په پرمختګ کې ژور اغېز درلود. خو د ادبیاتو د تاریخ په بهیر کې هېڅ مکتب د تل لپاره د واکمن بهیر په توګه نه دی پاته شوی. کلاسیزم هم ورو ورو له رومانټیسزم او نورو نویو ادبي خوځښتونو سره مخ شو او خپل پخوانی انحصاري مقام یې له لاسه ورکړ. زما په خیال، د کلاسیزم زوال د هغه د هنري ارزښت د له منځه تلو په معنا نه دی، بلکې د ټولنیزو بدلونونو، فکري تحولاتو او د نوو ادبي غوښتنو په پایله کې د هغه د واکمنۍ کمزوري کېدل دي.

د سختو ادبي اصولو او قواعدو محدودیت : د کلاسیزم یو مهم اصل د نظم، تناسب او د هنري قواعدو مراعات و. په ځانګړي ډول، په فرانسوي کلاسیکه ډرامه کې د دربو وحدتونو اصل (د عمل، زمان او مکان وحدت) ته ځانګړې پاملرنه کېده. خو کله چې دغه قواعد په سخت او نه بدلېدونکي ډول تطبیق شول، د لیکوالو د

تخیل، انفرادي بیان او هنري ازادۍ امکانات یې محدودولای شول. ځینو نویو لیکوالو غوښتل چې د انسان پېچلي احساسات، تاریخي بدلونونه او د ژوند بېلابېلې تجربې په ازاده بڼه انځور کړي. همدې غوښتنې د کلاسیکو اصولو پر وړاندې د نوو ادبي لارو د رامنځته کېدو زمینه برابره کړه. د کلاسیزم د واکمنۍ د کمزوري کېدو له مهمو عواملو څخه د رومانټیسزم ظهور و. رومانټیسزم د اتلسمې پېړۍ په وروستیو او د نولسمې پېړۍ په پیل کې په اروپا کې پراختیا وموندە. رومانتیستانو پر عقل او قواعدو د کلاسیزم د ټینګار په مقابل کې د جذباتو، تخیل، فردي ازادۍ، طبیعت او هنري نوښت ارزښت ته لومړیتوب ورکړی. د ویلیم ورډزورت، سمویل ټیلر کولریج، ویکتور هوګو او بایرون په څېر لیکوالو د ادبیاتو لپاره نوې لارې پرانیستې. د هغوی په اند، هنر باید د انسان د روح، احساساتو او فردي تجربو ازاد بیان وي، نه یوازې د پخوانیو قواعدو مراعات. د اتلسمې پېړۍ د روښانتیا فلسفې د عقل، ازادۍ، فردي حقونو او د دودیزو واکونو د انتقادي ارزونې لپاره زمینه برابره کړه. دې خوځښت د ټولنې او انسان په اړه نوي افکار رامنځته کړل. وروسته د فرانسې انقلاب (۱۷۸۹) او نورو سیاسي او ټولنیزو بدلونونو د ازادۍ، برابرۍ، ملت پالنې او فردي هویت مفکورې پیاوړې کړې. د دغو تحولاتو په پایله کې، د ادبیاتو موضوعات هم پراخ شول. لیکوالانو یوازې د پخوانیو اخلاقي او هنري معیارونو پر ځای د ټولنیز عدالت، سیاسي ازادۍ، فردي حقونو او انساني کړاوونو په اړه زیاتې لیکنې پیل کړې.

ایا کلاسیزم په بشپړه توګه له منځه تللی دی؟ نه؛ د کلاسیزم زوال باید د هغه د بشپړې ورکېدو په معنا ونه ګڼل شي. هغه څه چې کمزوري شول، د یوه واکمن او غالب ادبي مکتب په توګه یې مقام و، نه د هغه هنري او فکري ارزښت. د کلاسیزم

اصول لا هم په ادبياتو، ډرامه، موسيقۍ، معمارۍ او ښکلاپوهنه کې اغېز لري. نظم، تناسب، د جوړښت انسجام او د ژبې وضاحت لا هم د ډېرو هنري اثارو مهمې ځانګړتياوې دي. په لنډه توګه، کلاسيزم خپل واکمن مقام ځکه له لاسه ورکړ چې د انسان او ټولنې نوو تجربو د بيان لپاره نويو ادبي لارو ته اړتيا پيدا شوه؛ خو د هغه بنسټيز هنري اصول تر نن ورځې پورې د ادبي او هنري ارزونې په مهمو معيارونو کې ځای لري.

مسعود: تاسو د پښتو ؛کلاسيک ادب؛ د اروپايي کلاسيزم ښوونځی سره څنګه پرتله کوئ؟

استاد سيماب: د پښتو کلاسيک ادب او يورپي کلاسيزم ترمنځ پرتله کول يو په زړه پورې او علمي بحث دی. که څه هم دواړه د کلاسيک اصطلاح کاروي، خو د تاريخي شرايطو، فکري بنسټونو، هنري اهدافو او ټولنيز چاپېريال له مخې مهم توپيرونه لري. د يورپي کلاسيزم ريښې يې په لرغوني يونان او روم کې دي، او په ځانګړي ډول د اوولسمې او اتلسمې پېړۍ په يورپ (لکه فرانس او انګلستان) کې د عقل، نظم او د لرغونو الګو د تقليد په توګه بيا راژوندی شو. پښتو کلاسيک ادب لکه د خوشحال خان خټک، رحمان بابا،حميدبابا د سيمه ييزو تاريخي بدلونونو، فکري خوځښتونو، تصوف، ملي مبارزو او سيمه ييزو کلتوري ارزښتونو په پايله کې رامنځته شوی دی، نه د يوناني او رومي يا بل ادب د تقليد له مخې. يورپي کلاسيزم پر عقل، منطق، فکري نظم، د ټولنيزو عادتونو پر نقد، اخلاقي اصولو او د قواعدو پر سخت ټينګار کوي. پښتو کلاسيک ادب زياتره پر تصوف، عرفان، مينه، اخلاقو، پښتني ننګ, جرئت، وطنپالنې او ټولنيز عدالت ولاړ دی. په دې ادب کې (په ځانګړي توګه د رحمان بابا په شعر کې) د زړه او احساس ژورواليد عقلي او

رسمي حدود څخه ماورا دی. یورپي کلاسیزم کی محتاطانه نظم، د ژبې او فورم توازن، روښانتیا او د سختو ادبي او ستایلیکو قوانینو پیروي حاکمه ده. پښتو کلاسیک ادب په شعر کې تر ډیره غزل، قطعه او مثنوي د اظهار لارې دي، چې د تصوف سمبولونه، فکري آزادي او د پښتو ژبې بډایه استعارې او اصطلاحات پکې کارول شوي دي. د خوشحال بابا په شعر کې حماسي او واقعیت پاله بڼه ښکاري، په داسې حال کې چې رحمان بابا عرفاني او اخلاقي اړخونه پیاوړي کوي.د یورپي کلاسیزم موخه یې د ټولنیز ریاکارۍ نقد، د اخلاقو اصلاح او د هنر د عالي او متناسب فورم ښودل دي. پښتو کلاسیک ادب موخه یې د انسان روحاني روښانتیا، د ټولنې د ناوړه دودونو نقد، د پښتني وقار ساتنه او د مینې او اخلاقو له لارې د انساني وجدان بیدارول دي. که څه هم دواړه مکتبونه د لوړ هنري ارزښت او دوامدار اغیز له مخې د کلاسیک مقام لري، خو روحیه یې توپیر لري. یورپي کلاسیزم پرعقل، قواعدو او نظم ولاړ دی، پداسې حال کې چې پښتو کلاسیک ادب زیاتره پرعشق، تصوف، اخلاقو، حماسې او ټولنیز درد متمرکز دی.

مسعود: په پښتو ادبیاتو کې د کلاسیکو لارویانو تر ټولو نامتو لیکوال څوک دي؟ ایا دوی د کلاسیکیزم له مکتب او تګلوري څخه اغیزمن دي که نه؟ ښه به وي که تاسو د دې لیکوالو د نوماندو نښیرونو (اثارو) نومونه واخلئ.

استاد سیماب: په پښتو ادبیاتو کې کلاسیک ادب یو ځانګړی او خورا بډای ځای لري. که د لویدیځ (یونان، روم او فرانسې) کلاسیزم له اصولو (لکه عقل، نظم، تناسب، اخلاقي ارزښتونو او د پخوانیو استادانو پیروي) سره پرتله کړو، نو په پښتو کلاسیک ادب کې هم ورته فکري او هنري بنسټونه په ډېر لوړ او ځانګړي شکل لیدل کېږي. البته, پښتو کلاسیک ادب د لویدیځ د کلاسیزم تقلید نه دی، بلکې د

پښتني ټولنې په بډايه کلتور، تصوف، حماسه، اخلاقو او فلسفه ولاړ دی.خو سبک هندي د فارسي کلاسيک څخه سرچينه اخلي. په پښتو کې د کلاسيکو لارويانو په آثارو کې نظم، فکري هم آهنګي، لوړ اخلاقي ارزښتونه، د ژبې روښانتيا او بلاغت د لويديځ د کلاسيکو اصولو سره پوره ورته والی لري. په پښتو ادبياتو کې يو شمېر سترې څېرې شته چې د کلاسيک ادب ستنې ګڼل کېږي.چې هغه زياتره زمونږ په زرينه دوره کې شتون لري. پښتو کلاسيکو ليکوالانو **(لکه خوشحال ، رحمان بابا او د سبک هندي شاعران)** د خپلو اثرونو له لارې د پښتو ژبې فکري او هنري بنسټونه دومره پياوړي کړل چې د وخت په تېرېدو سره لا هم د پښتو ذوق، فکر او ادبي تاريخ د ملا تير ګڼل کېږي. د دوی په اثارو کې د عقل، منظم فکر، اخلاقو او انساني وقار څرګندې نخښې د لويديځ د کلاسيکو جريانونو له لوړو اهدافو سره په زړه پورې ورته والی لري.

مسعود: د پښتو ژبې د ادبي نښيرونو (اثارو) او ځانګړې ډولونو (ژانرونو) په اړه د کلاسيسيسم د مکتب تګلوری او اصول څنګه ارزوي؟

استاد سيماب: که د کلاسيزم فکري او هنري اصول د پښتو ژبې په عمده ادبي ژانرونو (لکه منظوم داستان، غزلي، قطعي، قصيدې او منثورو اخلاقي او تاريخي متنونو) کې وپلټو، وينو چې پښتو کلاسيکو ليکوالانو په خپلو اثارو کې د لويديځ د کلاسيکو مکتبونو له ځينو بنسټيزو لارو چارو سره ورته تګلوری خپل کړی دی. عقل، منطق او فکري انسجام د کلاسيزم يو بنسټيز اصل د عقل او منطقي استدلال حاکميت دی. په پښتو کلاسيک ادب کې (په ځانګړې توګه د خوشحال خان خټک په شعرونو او نثر کې) عقل، تدبير، تجربې او منطقي تفکر ته تر جذباتي مبالغو ډېر ځای ورکړل شوی دی. د هغه په اثارو کې نظم او فکري ثبات د

کلاسیکو اصولو ښکارندویي کوي. اخلاقي ارزښتونه او ټولنیز اصلاح د کلاسیزم یو مهم هدف د ټولنې روزنه او د اخلاقي فضیلتونو پیاوړتیا ده. پښتو کلاسیک ادب (لکه د رحمان بابا عرفاني او اخلاقي شاعري یا د حمید مومند نیرنګ عشق) په ژوره توګه په انساني اخلاقو، د نفس په روزنه، او د ټولنیزو عیبونو په نقد ولاړ دي. د ژبې روښانتیا او بلاغت څنګه چې نوکلاسیکو لیکوالانو (لکه بوالو او الکزانډر پوپ) د ژبې پر روښانتیا، کنټرول او په اصولو برابر سبک ټینګار کاوه، په پښتو کې هم کلاسیکو استادانو د ژبې په اصالت، محکمې، پوهه او فصاحت کې ځانګړي معیارونه رامنځته کړل چې نن سبا د پښتو ژبې د لوړ معیار نخښې ګڼل کېږي. سره له دې چې فکري ورته والی پکې شته، خو د پښتو ادبي اثار او د لویدیځ د کلاسیزم ترمنځ بنسټیز توپیرونه هم موجود دي. د سرچینې توپیر، لویدیځ کلاسیزم د لرغوني یونان او روم (Greek & Roman) له تمدن، تیټر او اساطیرو څخه الهام اخیستی و؛ مګر پښتو کلاسیک ادب د اسلامي الهیاتو، تصوف، قامي او سیمه ییزو ارزښتونو، او پښتني جرګو او غیرت پر بنسټ رامنځته شوی دی.ژانري توپیر، په لویدیځ کلاسیزم کې (ټراېجډي، کامډي او حماسي ډرامه) ډېر مهم وو او سخت قواعد یې لرل؛ خو په پښتو کلاسیک ادب کې غزل، مثنوي (منظوم داستان)، قصیده او پندنامه تر ټولو مخکښ ژانرونه وو چې د هنري جوړښت تر څنګ یې جذباتي او عرفاني ژورواليۍ هم درلود.

د خوشحال خان خټک اثار (لکه دستار نامه ، سوات‌نامه او اخلاقي منظومې)

د عقل، ټولنیز نظم، سیاست، او د ژوند د اصولو له مخې خورا منظم او د کلاسیک فکر سره نزدې اثار دي.**د رحمان بابا دیوان** که څه هم د عرفان او عاطفې له مخې د رومانټیکو یا احساساتي جریانونو سره نزدې ښکاري، خو د فکري تعادل،

د ژبې د روښانتیا، او د انساني اخلاقو د لوړتیا له مخې د کلاسیک اعتدال او تناسب تر ټولو ښه بېلګه ده.د **حمید مومند اثر (نیرنګ عشق)** د هندي سبک او کلاسیکو فکري باریکیو یوه شاهکار ده چې د مینې، فلسفې او اخلاقي پایلو ترمنځ یې عقلي او هنري توازن ساتلی دی. که څه هم پښتو کلاسیک ادب د لویدیځ د کلاسیزم مستقیم غړی نه دی، خو د فکري نظم، د عقل او اخلاقو پر بنسټ د ټولنې د روزنې، او د هنري جوړښت د کلکتیا له مخې، په پښتو اثارو کې د کلاسیزم روحیه او اصول په ډېر روښانه او اصل شکل لیدل کېږي.

مسعود: تاسو په پښتو شعر و شاعرۍ، کیسو، داستانونو، رومانو او ناولونو کې د کلاسیزم ښوونځی ارزښت او ځانګړی اغېز څه ډول ارزوئ؟ ښه به وي که په دغو برخو کې د نوموتو څېړو نومونه او د دوی مهم، ګټور او پېژندل شوي نښیرونه (آثار) راته په ګوته کړئ.

استاد سیماب: کلاسیزم یو ځانګړی ادبي او هنري لیدلوری دی چې د نظم، اعتدال، عقل او کلاسیکو یوناني او رومي اصولو پیروي کوي. د پښتو ادبیاتو په اړه هم باید دا توپیر په نظر کې وساتل شي. پښتو کلاسیک شعر اوږد او بډای تاریخ لري، خو دا سمه نه ده چې د پښتو ټول کلاسیک شاعران د یورپ کلاسیزم د ښوونځي پیروان وګڼل شي. د **خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حمید مومند** او نورو شاعرانو آثار د پښتو د خپل ادبي، عرفاني، اخلاقي او فرهنګي دودونو په رڼا کې باید وڅېړل شي. د دوی له اثارو سره د کلاسیزم د اصولو پرتله ګټوره ده، خو دا پرتله د مستقیم تاریخي اغېز د ثبوت معنا نه لري.

په شعر کې کلاسیزم د ژبې پر ښکلا، د فکر پر روښانتیا، د احساساتو پر اعتدال، د وزن او جوړښت پر تناسب او د انساني تجربو پر هنري بیان ټینګار کوي. د

کلاسیک‌پالنې له نظره، ښه شعر یوازې د احساساتو ناڅاپي څرګندونه نه ده؛ بلکې د فکر، عاطفې، ژبې او هنري جوړښت همږغي ده. د پښتو شاعرۍ په تاریخ کې ګڼ داسې شاعران شته چې په خپلو اثارو کې یې د فکر پخوالی، د ژبې ځواک، اخلاقي پیغام، هنري نظم او انساني تجربې څرګندې کړې دي. د دوی ارزښت د پښتو د خپل ادبي دود له مخې دی، خو د کلاسیزم له ځینو اصولو سره یې پرتله هم کېدای شي،خو دا د هغوئ تقلید نه شي بلل کېدای.دا لاندي څو نومونه دي چې کلاسیک درجه ته رسېدلي دي

خوشحال خان خټک: د پښتو د کلاسیک شعر له سترو څېرو څخه دی. د هغه په دیوان کې حماسي، اخلاقي، عشقي، سیاسي او ټولنیز موضوعات لیدل کېږي. د ده شعر د ژبې په ځواک، روښانه بیان، شخصي تجربو او د پښتني هویت په څرګندولو کې ځانګړی اهمیت لري. د هغه دستارنامه هم د اخلاقو، مشرۍ او ټولنیز مسئولیت په اړه مهم نثري اثر دی.

رحمان بابا: د پښتو عرفاني او اخلاقي شاعرۍ له نوموتو استازو څخه دی. د هغه دیوان د مینې، تواضع، زغم، انسان‌دوستۍ او معنوي پاکوالي موضوعات رانغاړي.

عبدالحمید مومند: د پښتو د کلاسیک غزل له مهمو شاعرانو څخه دی. د هغه په شاعرۍ کې د ژبې هنري ښکلا، دقیق تصویرونه، استعاره، تشبیه او د بیان ظرافت ځانګړی ځای لري.

علي خان: د پښتو د کلاسیک غزل له شاعرانو څخه دی چې د مینې، ښکلا او انساني احساساتو په بیان کې یې وندې لرلې ده.

کاظم خان شیدا: د خیال پردازۍ، نوښتګرو تصویرونو او هنري ژبې له امله د پښتو د کلاسیکي شاعرۍ په تاریخ کې پېژندل کېږي.

کیسه او داستان د انساني تجربو، ټولنیزو اړیکو، اخلاقو او د ژوند د پېښو د بیان مهم ادبي ژانرونه دي. د کلاسیزم له نظره، په یوه بنه داستان کې د پېښو ترمنځ منطقي اړیکه، د کرکټرونو د چلند معقولیت، د بیان روښانتیا او د موضوع هنري وحدت اهمیت لري. داستان باید یوازې د حیرانوونکو پېښو مجموعه نه وي، بلکې د انسان د چلند او ټولنیز ژوند په اړه یو منسجم مفهوم هم وړاندې کړي. په پښتو ادبیاتو کې هم د داستان ویلو پخوانی شفاهي دود شته. اولسي کیسې، متلونه، تاریخي روایتونه او عشقي داستانونه د پښتني فرهنګ او ټولنیزو ارزښتونو د لېږد مهمې وسیلې وې. د **آدم خان او درخانۍ ،فتح خان بړېځی** او نور اولسي داستانونه د مینې، وفادارۍ او ټولنیزو محدودیتونو یوه مشهوره بېلګه ده. د یوسف خان او شیر بانو داستان هم د مینې، دودونو او انساني اړیکو موضوعات رانغاړي. د پښتو د پخوانیو لیکنو په اړه څېړنې دا هم څرګندوي چې د **خوشحال خان خټک او افضل خان خټک** په تاریخي او یادښت ډول لیکنو کې د ځانګړو پېښو، شخصیتونو او ورځني ژوند داسې روایتونه شته چې د داستاني نثر ځینې ځانګړنې لري. البته دغه آثار او اولسي داستانونه باید په مستقیم ډول د یورپ کلاسیزم محصولات ونه ګڼل شي. د دوی اهمیت په دې کې دی چې د پښتو د خپل فرهنګ له مخې د انساني تجربو، اخلاقو او ټولنیزو اړیکو هنري انځور وړاندې کوي.

د پښتو لنډه کیسه او ناول د معاصر نثري ادب له مهمو برخو څخه دي چې د یورپي ادبیاتو ورکړه ده. په دغو ژانرونو کې د موضوع وحدت، د پېښو منطقي ترتیب، د کرکټرونو واقعي انځورول، د ژبې روښانتیا او د پای اغېزمنتیا هغه هنري ځانګړنې

دي چې د کلاسیک‌پالنې له اصولو سره پرتله کېدای شي. د پښتو د معاصر داستاني نثر په وده کې **سید راحت زاخېلي (۱۸۸۴-۱۹۶۳)** مهم مقام لري. د هغه ماه رخې یا نتیجه عشق د پښتو د لومړي ناول په توګه ډېرى وخت یادېږي، که څه هم د پښتو د لومړي ناول په اړه د څېړونکو ترمنځ اختلاف شته. د هغه لنډه کیسه کونډه جینې هم د پښتو د لومړنیو معاصرو لنډو کیسو له مهمو بېلګو څخه ګڼل کېږي. راحت زاخېلي په خپلو داستاني اثارو کې د ټولنیز ژوند، انساني اړیکو او د افرادو د ستونزو موضوعاتو ته پام کړی دی. د هغه ادبي خدمت دا و چې پښتو نثر ته یې د ناول او لنډې کیسې په څېر معاصر ژانرونه ورنزدې کړل او د پښتو داستاني ادب د ودې لپاره یې لاره هواره کړه. د پښتو د داستاني ادب په پراختیا کې وروسته ګڼو لیکوالو برخه واخیسته. د دوی په اثارو کې د ټولنیزو دودونو، بې وزلۍ، تعلیم، عدالت، ښځو د ژوند، سیاسي بدلونونو او جګړو موضوعات مطرح شول. په دې بهیر کې د کلاسیزم له اصولو سره ورته هنري ځانګړنې، لکه د کیسې جوړښت، د ژبې پخوالی او د کرکټرونو ترمنځ منطقي اړیکې، د ادبي نقد لپاره ګټور معیارونه دي؛ خو د معاصر پښتو ناول او لنډې کیسې ټولې ځانګړنې په کلاسیزم پورې محدودول سم نه دي، ځکه واقعیت پالنې، مارکسیزم،رومانټسیزم، سمبولیزم او نورو ادبي مکتبونو هم پر دې ژانرونو اغېز کړی دی.

د کلاسیزم تر ټولو مهمه ګټه دا ده چې ادبي اثر ته د هنري نظم، ژبني دقت، فکري روښانتیا او جوړښتي تناسب معیارونه وړاندې کوي. د دې مکتب له مخې، لیکوال باید د موضوع او بڼې ترمنځ توازن وساتي، د کرکټرونو په انځورولو کې هنري منطق مراعات کړي او د بې‌ځایه مبالغې پر ځای د اثر داخلي انسجام ته پام وکړي. په پښتو شاعرۍ، داستان او ناول کې د دغو معیارونو کارول د ادبي نقد او

لیکوالی لپاره ګټور دي. د بېلګې په توګه، د **رحمان بابا** د شعر د فکري روښانتیا، د **حمید مومند** د ژبې د هنري بڼکلا، د **خوشحال خان خټک** د بیان د ځواک او د **راحت زاخېلي** د داستاني جوړښت څېړنه د ادبي ارزونې لپاره بېلابېل فرصتونه برابروي.خو کلاسیزم ځینې محدودیتونه هم لري. که د نظم او اصولو پیروي دومره سخته شي چې د لیکوال انفرادي ږغ، نوښت، عاطفه او د ټولنې ځانګړې تجربې محدودې کړي، ادبي اثر خپل طبیعي ځواک له لاسه ورکولای شي. پښتو ادب د اولسي بیان، شفاهي روایت، عرفاني احساس، حماسي روحیې او نوښتګرو ادبي تجربو پراخ میراث لري؛ نو د دې ادب ارزونه باید یوازې د اروپایي کلاسیزم له معیارونو سره ونه تړل شي.

مسعود : په پښتو ادب کې د مکتبونو د تقلید ستونزې او د خپلې ادبي تیورۍ د تدوین اړتیا څومره ده؟

استاد سیماب : په ادبي کره کتنه کې ادبي مکتبونه او انتقادي نظریات د ادبي اثارو د پېژندنې، تحلیل او ارزونې مهمې وسیلې دي. د هر مکتب تر شا ځانګړي فلسفي بنسټونه، فکري اصول، تاریخي شرایط او د ادبي اثر د مطالعې ځانګړي میتودونه موجود وي. له همدې امله، د ادبي نظریاتو علمي پېژندنه او پر ادبي متونو یې د اصولو مطابق تطبیق د کره کتنې د پرمختګ لپاره اساسي اهمیت لري. خو کله چې یو ادبي مکتب د هغه له فکري او فلسفي شالید پرته ومنل شي، یا یې مفاهیم د یوې بلې ژبې او کلتور پر ادبي اثارو له انتقادي ارزونې پرته تطبیق شي، نو د علمي تحلیل پر ځای د نظریاتي تقلید ستونزه رامنځته کېږي. په پښتو ادب کې هم د مکتبونو پر بنسټ د کره کتنې د ودې په بهیر کې دا پوښتنه مهمه ده چې ایا د نورو ادبي او فکري دودونو نظریات د پښتو ادب د تحلیل لپاره په هماغه بڼه

کارول کېدای شي، که اړتیا ده چې د پښتو ادب تاریخي، کلتوري، ژبني او ټولنیز شرایط هم د کره کتنې په میتود کې اساسي ځای ولري؟

په دې اړه زما اساسي دریځ دا دی چې پښتو ادب باید یوازې د بهرنیو ادبي نظریاتو د تطبیق موضوع ونه ګڼل شي، بلکې د خپلې ادبي تجربې، شفاهي میراث او کلتوري ځانګړتیاوو په رڼا کې باید د خپلې تیورۍ د پېژندنې، تدوین او عملي کولو هڅه هم وشي. دا دریځ له نړیوالو نظریاتو سره د مخالفت معنا نه لري؛ بلکې موخه یې دا ده چې نړیوالې علمي تجربې د پښتو ادب د ژورې پېژندنې وسیله وګرځول شي. په علمي او ادبي ډګر کې د نظریاتو استفاده او د نظریاتو تقلید دوه بېلابېل مفاهیم دي. استفاده هغه وخت علمي ارزښت لري چې د یوې نظریې فلسفي بنسټونه، مفاهیم او د تطبیق شرایط وپېژندل شي او بیا د اړوند ادبي اثر له ځانګړنو سره سم وکارول شي. برعکس، تقلید هغه وخت رامنځته کېږي چې د یوې نظریې اصطلاحات او اصول له کافي پوهې، انتقادي ارزونې او د متن له ځانګړو شرایطو سره له اړیکې پرته ومنل شي. په پښتو ادب کې د دې ستونزې یوه بڼه د بهرنیو ادبي مکتبونو د اصطلاحاتو استعمال دی، په داسې حال کې چې د دغو اصطلاحاتو ترمنځ مفهومي توپیرونه او فلسفي بنسټونه په بشپړه توګه نه وي روښانه شوي. کله ناکله یوه نظریه د هغې له تاریخي شالید پرته د هر ادبي اثر د تحلیل لپاره کارول کېږي، حال دا چې د ادبي اثارو موضوعات، جوړښتونه، هنري ځانګړنې او کلتوري شرایط یو له بل سره توپیر لري. د تقلید بله ستونزه دا ده چې د یوه ادبي اثر ټول ارزښت د یوه نظریاتي مکتب له مخې ټاکل کېږي. په داسې تحلیل کې د اثر ژبه، تخیل، عاطفه، هنري جوړښت، د بیان ځانګړتیاوې او جمالیاتي ارزښتونه تر سیوري لاندې راځي او کره کتنه د یوې ټاکلې نظریې د اثبات وسیله ګرځي.

همدارنګه، کله چې د نورو ټولنو تاریخي او ټولنیزې تجربې د پښتني ټولنې پر ادبي اثارو بې له کافي پرتلیزې مطالعې تطبیق شي، د متن او نظریې ترمنځ ناسمې اړیکې رامنځته کېدای شي. د دې ستونزې د مخنیوي لپاره اړینه ده چې د ادبي مکتبونو نظریاتي اصول د پښتو ادب له تاریخي، ژبني، کلتوري او ټولنیزو واقعیتونو سره په انتقادي ډول وتړل شي.

د پښتو ادب شفاهي میراث او د خپلې تیورۍ بنسټ : د پښتو ادب د تیورۍ په بحث کې یوه اساسي پوښتنه دا ده چې د پښتو ادب د هنري اصولو او ادبي معیارونو د پېژندنې لپاره باید یوازې له بهرنیو نظریاتو استفاده وشي، که د پښتو ادب په خپل تاریخي او کلتوري میراث کې هم د یوې ادبي تیورۍ د جوړولو سرچینې موجودې دي؟ زما په فکر، د پښتو شفاهي ادب او د پښتني کلتور په ادبي تجربو کې د خپلې ادبي تیورۍ د پېژندنې او تدوین مهم امکانات موجود دي. لنډۍ،غاړې، اولسي سندرې،نکلونه، متلونه، اولسي روایتونه، حماسي او عشقي کیسې او نور شفاهي ادبي ډولونه د پښتني ټولنې د احساس، تخیل، ژبني ذوق، فکري تجربې او جمالیاتي معیارونو څرګندونې دي. دغه ادبي ډولونه یوازې د اولسي ژوند د انعکاس بېلګې نه دي، بلکې د ژبې د استعمال، د معنا د رامنځته کېدو، د عاطفې د بیان، د تخیل د جوړښت، د آهنګ او موسیقیت، د تصویر او سمبول او د مخاطب د اغېزمنولو ځانګړي اصول هم لري. د دغو اصولو علمي مطالعه کولای شي د پښتو ادب د تیورۍ د تدوین لپاره بنسټیز مواد برابر کړي. البته، د شفاهي ادب موجودیت په خپله د یوې بشپړې او منظمې تیورۍ د شتون ثبوت نه دی. د دې لپاره اړینه ده چې د شفاهي ادبي میراث ځانګړنې په منظمه توګه مطالعه، تحلیل او پرتله شي، له هغو څخه تکرارېدونکي هنري اصول

راوابستل شي او بيا د دغو اصولو مفهومي تعريفونه او د تطبيق حدود څرګند شي. په دې توګه، د پښتو ادب خپله تيوري د يوې داسې علمي هڅې په توګه مطرح کېږي چې د پښتو له ادبي تجربې څخه اصول راوباسي، هغه منظم کړي او د پښتو ادب د تحليل او ارزونې لپاره يې د يوه روښانه ميتود په توګه وړاندې کړي.

د پښتو ادب د تيورۍ او نړيوالو ادبي نظرياتو اړيکه : د پښتو ادب د خپلې تيورۍ د تدوين معنا دا نه ده چې پښتو ادب دې له نړيوالو ادبي او فکري تجربو څخه جلا شي. ادبي نظريات د انساني فکر، تاريخي تجربو او علمي څېړنو محصول دي، او د هرې ژبې ادبيات کولای شي له دغو تجربو څخه ګټه واخلي. خو دغه استفاده هغه وخت علمي ارزښت پيدا کوي چې د نظريې د اصل او د هغې د نوي تطبيق ترمنځ توپير وساتل شي. د بېلګې په توګه، مارکسي کره کتنه د طبقو، اقتصاد او ټولنيزو اړيکو د تحليل لپاره ځانګړي مفاهيم وړاندې کوي؛ ساختيات د متن د داخلي اړيکو او جوړښتي نظام په مطالعه کې مرسته کوي؛ اړواپوهنيزه کره کتنه د شخصيت، نفسياتي محرکاتو او ناخودآګاه بهيرونو د تحليل امکانات برابروي؛ او نور مکتبونه د ادبي متن د بېلابېلو اړخونو د پېژندنې لپاره ځانګړي ميتودونه لري. خو هېڅ يو مکتب بايد د هر ادبي اثر د ټولو اړخونو د تشريح يوازينۍ وسيله ونه ګڼل شي. د نظريې انتخاب بايد د اثر له موضوع، جوړښت، ژبې او هنري ماهيت سره مناسب وي. همدارنګه، د يوې نظريې د تطبيق پر مهال بايد د پښتني ټولنې تاريخي او کلتوري شرايط له پامه ونه غورځول شي. له همدې امله، د پښتو ادب د تيورۍ او نړيوالو نظرياتو ترمنځ مناسبه اړيکه د علمي انتخاب، انتقادي ارزونې او تخليقي تطبيق اړيکه ده. نړيوال نظريات د پښتو ادب د تحليل

امکانات پراخولای شي، او د پښتو ادب ځانګړې تجربې هم کولای شي د ادبي نظریاتو په پرتلیزه مطالعه کې نوي بحثونه او پوښتنې مطرح کړي.

د پښتو ادب د خپلې تیورۍ تدوین او عملي کړه کتنه : د یوې ادبي تیورۍ علمي ارزښت یوازې په نظري ادعاوو نه ثابتېږي، بلکې د هغې د اصولو په روښانه تعریف، د تحلیل په منظم میتود او د ادبي متونو په عملي ارزونه پورې تړلی دی. که د پښتو ادب د خپلې تیورۍ د تدوین موخه دا وي چې د پښتو ادبي اثارو د تحلیل لپاره یو مناسب او خپلواک چوکاټ رامنځته شي، نو اړینه ده چې د دغه چوکاټ مفاهیم، اصول او د تطبیق لارې په مشخص ډول وړاندې شي. په دې لړ کې لومړی ګام د پښتو شفاهي او لیکلي ادب د هنري ځانګړنو منظم تحلیل دی. دویم ګام د دغو ځانګړنو پر بنسټ د ادبي ارزونې د معیارونو پېژندنه او تعریف دی. دریم ګام د معیارونو ترمنځ د اړیکو روښانه کول او د متن د تحلیل لپاره د یوې منظمې کړنلارې جوړول دي. څلورم ګام د دغې کړنلارې عملي ازموینه ده، څو څرګنده شي چې یاد اصول د پښتو نظم او نورو ادبي ژانرونو د تحلیل لپاره څومره ګټور دي.

په دې برخه کې زما دوه کتابونه چې یو مې په ۲۰۲۵ء کال کې بل مې په ۲۰۲٦ ء کال د ؛ **د پښتو ادب تیوري** او ؛ **د پښتو نظم، د پښتو ادب تیورۍ په رڼا کې؛** ولیکل.د کتابونو ترمنځ یوه مهمه فکري اړیکه لیدل کېږي. لومړی کتاب د پښتو ادب د خپلې تیورۍ د پېژندنې او د هغې د بنسټونو د مطرح کولو هڅه کوي، په داسې حال کې چې دویم کتاب د یادې تیورۍ د عملي کولو لپاره نظري چوکاټ او د کړه کتنې نمونه وړاندې کوي. د دغو دوو پراوونو اړیکه د تیورۍ او عمل اړیکه ده. تیوري د تحلیل لپاره اصول او مفاهیم برابروي، او عملي کړه کتنه د دغو اصولو

د کارونې وړتیا، حدود او نیمګړتیاوې څرګندوي. که د عملي تحلیل په ترڅ کې د تیورۍ په اصولو کې ستونزې څرګندې شي، نو د هغو بیاکتنه او اصلاح د علمي پرمختګ یوه طبیعي برخه ده. په دې توګه، د پښتو ادب د خپلې تیورۍ تدوین باید د یوه بشپړ شوي او نه بدلېدونکي نظام په توګه ونه ګڼل شي، بلکې د یوې علمي پروژې په توګه دې وپېژندل شي چې د متني شواهدو، پرتلیزو مطالعاتو او عملي کره کتنې له لارې پرله پسې وده کوي.

د پښتو ادب د تیورۍ د تدوین اساسي اصول : د پښتو ادب د خپلې تیورۍ د علمي تدوین لپاره لاندې اصول مهم دي:

لومړی: د شفاهي ادبي میراث علمي مطالعه. د پښتو شفاهي ادب بېلابېل ډولونه باید د ژبې، تخیل، عاطفې، جوړښت، آهنګ، تصویر او کلتوري معنا له اړخه په منظم ډول وڅېړل شي.

دویم: د مفاهیمو او اصطلاحاتو روښانه تعریف. هر هغه مفهوم چې د پښتو ادب د تحلیل لپاره کارول کېږي، باید څرګند تعریف، مشخصه دنده او د تطبیق معلوم حدود ولري.

دریم: د متن محوري تحلیل. د کره کتنې پایلې باید د ادبي متن له مستندو شواهدو سره تړلې وي. نظریه باید د متن د پوهېدو وسیله وي، نه داسې چوکاټ چې متن په زور ورسره برابر کړل شي.

څلورم: د تاریخي او کلتوري شرایطو رعایت. د پښتو ادب د تحلیل پر مهال باید د پښتني ټولنې تاریخي تجربې، ژبني دودونه، ټولنیز جوړښتونه او کلتوري ارزښتونه په پام کې ونیول شي.

پنځم: له نړیوالو نظریاتو سره انتقادي اړیکه. د نورو ادبي مکتبونو له ګټورو اصولو څخه استفاده ضروري ده، خو دغه اصول باید د پښتو ادب له ځانګړنو سره د اړیکې له ارزونې وروسته تطبیق شي.

شپږم: د هنري ارزښتونو جامع ارزونه. د ادبي اثر ارزونه باید یوازې پر فکري یا ایډیالوجیک پیغام محدوده نه وي، بلکې ژبه، تخیل، عاطفه، جوړښت، سبک، هنري انسجام او ټولنیز اهمیت هم پکې شامل وي.

اووم: د تیورې عملي ازموینه او اصلاح. د تیورې اصول باید پر بېلابېلو متونو او ژانرونو وازمویل شي. د تطبیق پر مهال موندل شوې ستونزې باید د تیورې د اصلاح او پرمختګ لپاره وکارول شي.

په پښتو ادب کې د مکتبونو د تقلید ستونزه په اصل کې د بهرنیو نظریاتو د منلو ستونزه نه ده، بلکې د هغو د غیرانتقادي استعمال، د متن له ځانګړنو څخه د بېلتون او د پښتو ادب د خپل تاریخي او کلتوري چاپېریال د له پامه غورځولو ستونزه ده. له همدې امله، د پښتو ادب د علمي کره کتنې لپاره اړینه ده چې نړیوال ادبي نظریات په سمه توګه وپېژندل شي، د هغو د ګټې او محدودیتونو ارزونه وشي او د پښتو ادب د ځانګړو اړتیاوو مطابق وکارول شي. په عین حال کې، د پښتو شفاهي ادب او کلتوري میراث د خپلې ادبي تیورې د پېژندنې او تدوین لپاره مهمې سرچینې برابروي. د دغو سرچینو علمي مطالعه کولای شي د پښتو ادب د هنري اصولو، جمالیاتي معیارونو او د ادبي تحلیل د ځانګړو میتودونو په پېژندنه کې مرسته وکړي. خو د یوې منسجمې تیورې جوړول د اصولو د استخراج، مفهومي تعریف، منظمولو او عملي ازموینې غوښتنه کوي.

زما کتابونه ، پښتو ادب او تنقیدي نظریات (ډاکټرسیماب،۲۰۱۸)، د پښتو ادب تیوري(ډاکټرسیماب،۲۰۲۵) او د پښتو نظم، د پښتو ادب تیورۍ په رڼا کې (ډاکټرسیماب،۲۰۲۶) کتابونو د موضوعاتو ترمنځ اړیکه په همدې علمي مسیر کې درک کېدای شي: لومړی د ادبي نظریاتو د تقلید او تطبیق مسئله مطرح کوي، دویم د پښتو ادب د خپلې تیورۍ د بنسټونو پوښتنه راپورته کوي، او دریم د دغې تیورۍ د عملي استعمال لپاره د تحلیل چوکاټ وړاندې کوي.

په لنډه توګه، د پښتو ادب د کره کتنې د خپلواک علمي هویت د پیاوړتیا لپاره اړینه ده چې نړیوال نظریات د پښتو ادب د پوهېدو وسیله وګرځول شي، د پښتو شفاهي او لیکلي ادب له تجربو څخه هنري اصول راواېستل شي او دغه اصول د عملي کره کتنې له لارې وازمویل شي. د دې لارې موخه له نړیوال علمي بهیر څخه جلاوالی نه، بلکې په هغه کې د پښتو ادب د خپلې تجربې، خپل کلتوري شعور او خپل علمي دریځ پر بنسټ ګډون دی.

مسعود: د افغانستان د معماریۍ، نندارې''تیاتر''، ډرامې، موسیقۍ، انځورګرۍ او مجسمه جوړونې په هنرونو کې د کلاسیک تګلارې او هنر اغېز څه ډول ارزوئ؟ او دا راته وویاست، چې په دې برخو کې کومو نوموتو څېرو په خپلو ګټورو او اغېزناکو او پېژندل شویو نښیرونو(آثارو) کې د کلاسیزم اند وفکر ته ځانګړې پاملرنه کړئ ده؟

استاد سیماب: د افغانستان په معماریۍ، تیټر(تیاتر)، ډرامې، موسیقۍ، انځورګرۍ او مجسمه جوړونه کې د کلاسیک هنر اغېز ژور او بنسټیز دی. کلاسیک هنر په دې معنوي او مادي ډګرونو کې د اصالت، نظم، لوړ تکنیک، پخوانیو ارزښتونو او د تېرو دورو (لکه د غوري، تیموري، کوشاني او اسلامي

تمدنونو) د زرینو دورو د سمبول په توګه پېژندل کېږي. د افغانستان په معماری کې کلاسیک طرز د اسلامي او سیمه ییزو کلتورونو (لکه تیموري او غوري سبکونو) په اوبدلو سره رامنځته شوی دی. پدې کې د هندسي نقشونو دقیق کارول، لویو ګنبدونو، سرپوښونو (آرکونو)، کاشي کاری او د لرګیو په زړه پورې منبت کاری ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. کلاسیکه معماری د ثبات، توازن او پرتم نخښه ده.په دې برخه کې زیاتره تاریخي معماران په نومونو نه دي پاتې، خو د هغوی شاهکارونه لکه د هرات جامع جومات، د غازي سلطان محمود مقبره (غزني)، د باګرام او بامیانو تاریخي اثار او په کابل کې د بابر باغ عمومي ډیزاین د کلاسیکې معماری تر ټولو لوړ او پېژندل شوي اثار دي.

په افغانستان کې تیټر (تیاتر)او ډرامه که څه هم په معاصره بڼه په شلمې پیړۍ کې (د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال) پیل شوه، خو د هغې بنسټ په کلاسیکو ادبیاتو، فولکلوري کیسو، منظومو او د اروپایي کلاسیکو ډرامو (لکه د شکسپیر اثرونه) په پلمه پیاوړی شو. کلاسیکه ډرامه په لوړ ژبني معیار، اخلاقي پیغام، او د ژورو انساني احساساتو په انځورولو ولاړه ده.

د افغاني موسیقۍ کلاسیک سبک (چې په هندي کلاسیک او کورنیو درویشي او محلي ریښو هم متکي دی) د راګونو، تالونو او د شعر او موسیقۍ په لوړ همږغي کې ځانګړی ځای لري. کلاسیکه موسیقي په غمجنو، عارفانه او ژورو احساساتي پردوه ولاړه ده چې د روح آرامښت او د هنري اصالت ساتنه کوي.استاد قاسم افغان: د افغاني کلاسیکې موسیقۍ بنسټګر او په دې برخه کې مخکښ نوم دی.استاد سرآهنګ: چې د کلاسیکې موسیقۍ په برخه کې نړیوال شهرت لري. د هغه راګونه، هندسي او تکنیکي سندرې او په ځانګړې توګه د حافظ او بېدل د

غزلونو په زړه پورې اجرا د کلاسیک تفکر او هنري ذوق اوج دی. استاد رحیم بخش او استاد محمد حسین سرآهنګ په خپلو اغېزناکو اوازونو او راګونو سره د کلاسیزم بنسټونه ډېر پیاوړي کړل.

په افغانستان کې کلاسیک هنر او تفکر یوازې د تېر وخت یادونه نه ده، بلکې دا د افغان اولس د هویت، هنري عظمت او ژور جمالیاتی فکر یوه بې ساري زېرمه ده چې پورته یادو شویو نوموتو څېرو په خپلو خواریو او شاهکارونو سره ژوندۍ ساتلې ده.

***

په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود

***

ګران استاد سیماب صاحب تاسو هغه علمي، ادبي او فرهنګي شخصیت یاست چې د خپلو ګټورو، اغېزناکو او ارزښتمنو لارښوونکي نښیرونو(آثارو) له لارې د پښتو ژبې او ادب رنګین او غوړېدلی ډګر تل تُود، روښانه او ځلانده ساتلی دی. د کلاسیسم نړېوال ادبي او هنري مکتب په تړاو په دې مرکه کې ستاسو دا علمي، ادبي او مسلکي هر اړخیزه څېړنه او شننه، چې د مستندو ماخذونو، علمي او ادبي معیارونو او منطقي استدلال پر بنسټ ترسره شوې ده د خورا ستاینې او درنښت وړ ده. تاسو په دغه مرکه کې ارزښتمن، ژور، ګټور، کره او بشپړ مسلکي ځوابونه راکړې دي. تاسو په دغه مرکه کې د هغو معاصرو او راتلونکو پښتونو او نسلونو لپاره چې د خپل علمي او ادبي څېړنو او شننو په اړه د معتبرو علمي او مسلکي ماخذونو او لارښوونکي نښیرونو(آثارو) په لټه کې دي، داسې روښانه لاره هواره

کړېده، چې دوی به په ډېر ښکلي او ظریفانه بڼه له دې مرکې څخه اغېزناکه او ارزښتمنه ګټه پورته کړي.

زه ستاسو څخه نه یوازې د زړه له کومې مننه‌وی یم، خو له لوی خدای څخه ستاسو د لا نورو پنځونو او هستونو د بریاوو او بریالیتوبونو په هیله یم.

ګران استاد سیماب صاحب، الله تعالی دې ستاسو د ژوند هره شېبه د خوښۍ په ګلونو، د مینې په عطرو او د نېکمرغۍ په رنګونو ښکلې کړي.

ستاسو د اندو فکر ښېرازه او غوړېدلی بڼ دې تل د علم او ادب په ګلونو سمسور وي.

***

قدرمن او درونده انجنیر عبدالقادر مسعود صاحب!

ستاسو له دې مینه‌ناکې، علمي او ادبي ستاینې څخه د زړه له کومې مننه کوم. په ځانګړي ډول ستاسو د هغو ژورو، پرځای او علمي پوښتنو مننه کوم چې د کلاسیزم د نړیوال ادبي او هنري مکتب په اړه یې د یوې ارزښتناکې علمي مرکې زمینه برابره کړه.

ستاسو د پوښتنو علمي ژورتیا، منطقي ترتیب او ادبي ارزښت د دې سبب شو چې د کلاسیزم ښپلابېل اړخونه تر ممکنه حده په روښانه، مستند او تحلیلي بڼه وڅېړل شي. زما په اند، د یوې ښې علمي مرکې ارزښت یوازې په ځوابونو کې نه، بلکې د پوښتنو په کیفیت، د موضوع په انتخاب او د بحث په علمي ژورتیا کې هم نغښتی وي؛ او ستاسو پوښتنو د همدې ارزښت څرګندونه کړې ده.

ستاسو ادبي مينه، علمي هڅې او د پښتو ژبې او ادب د ودې لپاره خدمتونه د ستاينې وړ دي. هيله لرم چې دا مرکه به د پښتو ادب د اوسني او راتلونکي نسل لپاره د مطالعې، څېړنې او علمي پوهاوي يوه ګټوره سرچينه وګرځي.

لوی خدای دې تاسو ته روغتيا، خوښي او بریاوې در په برخه کړي، قلم مو دې تل روان او فکري او ادبي هڅې مو دې د پښتو ژبې او ادب د لا بډاينې سبب وګرځي.

په درنښت، ادبي مينه او مننه

پروفېسر ډاکټر نصيب الله سيماب

***

په درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود